
اووم سرود

# گل غوټۍ

Ketabton.com



عبدالغفور لیوال

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ګلغوټې ته اووم سرود

(شعري ټولګه)

لیکوال:

**عبدالغفور لیوال**

**۱۳۹۴ل کال**

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

# کتاب پېژندنه:


د کتاب نوم: ګلغوټۍ ته اووم سرود

ليکــوال: عبدالغفور لېوال

خپرونـدی: د افغانستان ملي تحريك، فرهنګي څانګه

وېـبپـاڼـه: www.melitahrik.com

ډيـزايـن: ضياء ساپی

پښتۍ ډيزاين: فياض حميد

چـاپشمېـر: ۱۰۰۰ ټوکه

چـاپـکــال: ۱۳۹۴ ل کال/ ۲۰۱۵م

د تحريك د خپرونو لړ: (۷۹)


يادونه: د چاپ حقوق له ملي تحريک سره خوندي دي او د کتاب د محتوا مسوليت ليکوال پورې اړه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالۍ

هغې ته،

چې لا هم زما "تو له شاعري" ده !

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د تحريك يادښت

د افغانستان ملي تحريك د (۱۳۹۳ ل) کال په پيل کې له خپلو ګرانو هېوادوالو سره ژمنه کړې وه چې د دې کال په بهير کې به (شل عنوانونه) بېلا بېل ديني، علمي، ادبي او ټولنيز اثار خپلې ټولنې ته وړاندې کوي. ملي تحريك دا ژمنه د ياد کال د کب پر (۲۸)مه نېټه پوره او د يوې پرتمينې غونډې په ترڅ کې يې شل عنوانونه علمي اثار هېوادوالو ته وړاندې کړل. ملي تحريك په ياده غونډه کې ژمنه وکړه چې د (۱۳۹۴ ل) کال په بهير کې به انشاء الله د خداى (ج) په نصرت ټول ټال سل (۱۰۰) عنوانه بېلابېل علمي اثار ټولنې ته وړاندې کوي. طبيعي خبره ده چې دا اسانه کار نه دى، ډېر زيات زيار او زحمت ته اړتيا لري، خو ملي تحريك ټينګ هوډ کړى چې خپله دا ژمنه به هم د تېرې ژمنې په څېر عملي کوي. دا اثر چې ستاسو په لاس کې دى د همدې (سل عنوانونو) ژمنه کړو اثارو له جملې څخه دى، چې د چاپ جامه اغوندي. ملي تحريك هيله لري چې له دې اثر څخه به زموږ هېوادوال په زړه پورې ګټه پورته کړي. ملي تحريك له ټولو هغو ليکوالو، ژباړونکو، سمونچارو، مالي او معنوي مرستندويانو او چاپ چارو څخه چې ددې اثارو د چاپ په دې ټول بهير کې يې يو بل سره مرسته او ملګرتيا کړې او دا فرهنګي بهير يې بريالى کړى، د زړه له کومې مننه کوي او کور ودانى ورته وايي.

د هېواد د فرهنګ د ښېرازۍ په هيله

د افغانستان ملي تحريك فرهنګي څانګه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ژوند ښکلی دی!

ګلغوټۍ وغوړېده او زه ایله پوه شوم، چې (ژوند ښکلی دی !).

ځینې یاران راڅخه وپوښتي: ایا ریښتیا ژوند ښکلی دی؟

په دې زخم زخم چاپیریال کې، په دې کرکه کرکه ماحول کې. د لوګیو، لنبو، زګیرویو، ساندو، غمونو او دردونو په دې زمانه کې به نو ژوند څنګه ښکلی وي؟

زه وخاندم او همدومره ورته وو ایم: تاسو د خپلې ګلغوټۍ خندا او غوړېدا لیدلې ده؟

دوی نور هم حیران شي؛ کومه ګلغوټۍ؟ کومه خندا؟

هو مور همدا سې یو، د اور او لنبو په چم کې نو د ګلغوټۍ خندا له کومه شي؟ مور خو د نړۍ پرسر دوزخیان پیدا یو، خو ماته، هو! ما نېکمرغه ته ګلغوټۍ وخندل او زه یې دې باور ته ورسولم، چې: (ژوند ښکلی دی!)

زه د ژوند د ښکلا پر تفسیر بوخت شوم، خلکو ته مې د ژوند ښکلا ورښووله، ماویل دا غمځپلي دا ژوند رټلي، دا لنبو سېزلي او دا زخمونو دردولي به هم د ژوند ښکلا ته بوځم، زه به دوی ته د خپلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګلغوټۍ خندا وروښيم، دوی به باوري کړم، چې ژوند ښکلی دی... زه بوخت وم، خواري مې کوله، ماويل دا د زمکې پرسر دوزخيان حق لري، چې پوه شي: (ژوند ښکلی دی !) ما ځان همدې ته سپارلی و او بوخت وم، چې د ژوند ښکلا وژباړم...

... او ګلغوټۍ لا ماته په تمه وه، زما انتظارېې کاوه، ماويل: دا دی در وزګارېږم او له خندا څخه دې ځانته دژوند سيوری جوړوم، له شونډو دې د ښکلا خوند زبېښم او له عطرو دې دروح تنده خړوبوم. ماويل بس همدومره، چې خلکو ته يې سپينه کړم؛ (ژوند ښکلی دی !) نور نو بېرته ګلغوټۍ ته ورګرځم.... خو چې شاته مې کتل: ګلغوټۍ تللې وه.

ګلغوټۍ چېرته لړې په خپل يوازيتوب کې ورکه شوې وه، نه پوهېږم سپرلي په مخه ورغلي وو، که خزانونه، واورې که توپانونه ؟ شبنم که عطرورينې وړمې؟ خدايزه څه به پرې راغلي وو؟

هو ! ګلغوټۍ تللې وه، له مانه مروره تللې وه، تر ډېر انتظار وروسته ورو ورو ستومانه شوې وه، ژړلي يې وو او ژړلي يې وو....

زه لا لګيا وم، خلکو ته مې ويل: (ژوند ښکلی دی !) ما دژوند الهام دهغې ګلغوټۍ له خندا او ښکلا څخه اخيسته، چې هغه نوره نه وه، چې انتظار ستومانه کړې وه او له ما څخه يې زړه صبر کړی و، نه نه، توبه ! زړه يې نو چېرته صبر کړی و؟ دهغې خو له مانه زړه نه صبرېږي، خو هسې يې په زړه دصبر ډبره اړولې وه، چې تلله، نو کوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



چا لیدلې وه او ویل یې: هغې نور نه خندل، ښکلا یې خزان شوې وه او نوره نو هغه مسته او په زلما کې ګلغوټۍ نه وه ...

زما پر شونډو د : ( ژوند ښکلی دی ! ) نغمې لا سندرو ته ښکلا ښښله، چې پام مې شو ، ګلغوټۍ نوره نه شته، هغه تللې ده، خدایزده په کومه او چېرته، څنګه او ولې؟

خلکو زما په ترانو او سندروکې د ګلغوټۍ دخندا ، ښکلا ، زلما او مستۍ نښې لټولې او ورو ورو یې باور راته، چې ( ژوند ښکلی دی ! ) دخلکو زخمونو ورو ورو خولې راټولولې او غمونه یې مړاوې کېدل، خو ما په خپلو سترګو کې داوښکو دباران ترشا لیدل چې ګلغوټۍ نه شته، ګلغوټۍ تللې ده.

زما سندرې هم غمجنې شوې، زما په سندرو کې سوز پیدا شو ، زما په ترانو کې د ګلغوټۍ دبېلتانه اور نڅا پیل کړه، زما په شعرونو کې دګلغوټۍ یادونو لنبې پیل کړې او خلکو لا د ژوند دښکلا تفسیر غوښته...

اه ! خدای دې څوک په داسې غم نه اخته کوي ! یوه خوا غمجن خلک او بله خوا دګلغوټۍ بېلتون !

ما دګلغوټۍ یادونو ته ترانې وویلې، په هغې پسې مې ژړاوې سندرې کړلې، کله مې چې په خوب ولیدله، نو ښې دېرې کیسې مې ورته وکړلې، څوځلې مې ورغږ کړل:

اهای !ګلغوټۍ !

(c) ketabton.com: The Digital Library



اې د ښکلا او خندا ننبې !

اې زما ټولې مينې ! راوګرځه ! بېرته راشه ! ما مه پرېږده !

خو د ګلغوټۍ هېڅ غږ بېرته رانه غی. يوازې زما خپل غږ زما په شعرونو او ترانو کې ازانګې کولې او چيغې يې وهلې ، ګلغوټۍ نه وه.

ما خپلې ساندې، چيغې، دردونه سر يوځای کړل، د ژوند د ښکلا تفسيرونه مې راټول کړل، د ګلغوټۍ د ښايست ستاينې مې وپيېلې او دهغې د خندا ، عطرو او مستۍ په تار کې مې هار کړلې. د غمونو ، بېلتانه، ښکلاوو ، مستيو ، عطرونو ، زخمونو ، خنداګانو او يادونو ټول غمي مې سره و اوډل او دا ټولګه ( ګلغوټۍ ته اووم سرود ) ترې جوړه شوه.

ستا سو په ياد دي؟ چې ابل ځلې مې درته ويلي وو: ولاړ شئ او هغې ته وو ايئ چې: (( ته زما ټوله شاعري يې ! ))

نه پوهيږم، هغې خوږې رسوايي څه پېښ کړل؟ ګلغوټۍ زما ټوله شاعري وه ، ده او وي به ! خو ګلغوټۍ اوس تللې ده او زه د ژوند د ښکلا د تفسير او په هغې پسې د ساندو او ژړا په برید کې لا ژوندی يم، شاعري کوم، ترانې وايم او له ساندو څخه سندرې جوړوم.

زما ګلغوټۍ تللې ده، هغه بېرته نه راګرځي، هغه مروره ده او د تل لپاره يې زه پرېښی يم. لاهم باور لرم چې هېر کړی يې نه يم ، لا يې په ياد يم، لا هم زما لپاره خاندي او زما په نامه ښکلا او عطر ښندي ، زه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دګلغوټۍ عطر او خواږه په خوب وینم، ځکه خو باور لرم ، چې لا یې نه یم هېر کړی او لا یې په یاد یم. زه سوزم، ځوریږم، په ګلغوټۍ پسې خپه یم، خو... تاسو ته لاهم وایم، چې:

ژوند ښکلی دی !

درناوی او مینه !

لېوال

دکب شپږمه ۱۳۹۴ لمریز

کابل۔کرغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# استازی

مکه

سپېڅلې شوه ، رڼا شوه

يوه سپينه رڼا.

ستورو ( سلام ) وکړ

(سلام) څه مانا ؟

مانا ، چې سوله دې پرتاوي مکې !

استازي پل کېښود دعرش له نوره.

استازی راغی ، چې د ژوند زيری پرخلکو وکړي

استازي هغه ، په ژوندوني، خښېدونکې نجونې وليدلې

چې په کوشنيو لاسو

اسمان ته ګوته نيسي

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدای نه استازی غواړي.

استازی راغی، چې انسان نه ورکه شوې عاطفه پیدا کړي

استازي غږ وکړ: مه !

(( دغه وړې نجونې په کومه ګناه ووژل شوې؟ ))

استازی ښکلی و

استازی ستر و

استازي ( اقرأ ) وویل

استازي ټول انسانیت ته دلوستلو سمندر وباښه

او مکه

ښکلې شوه ، رڼا شوه یوه سپینه رڼا

استازي لمر په زړه کې راوړ

او سپوږمۍ ورته په ملا نیمه شوه

استازي مینه راوړه

استازي سوله راوړه.

استازي وویل: پناه غواړم له هغې کرکې

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د قابیل په لاس یې وینه د هابیل تویې کړه.

استازي ذکر د خرما او د غنمو په دانو پیل کړ

استازي لوړه پر زیتون یاده کړه

استازي شین فصل د ژوند وکاره

لکه مکې ته پاس د ستورو سلام

استازي یوبل ته ( سلام ) راوړ

استازي موږ ته خوږ اسلام راوړ.

۱۳۹۴ د جدي لومړۍ، د میلاد مبارکه شپه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پایزېب

د سپوږمۍ ها رڼه شپه دې په یاد ېږي ؟
چې موسترګې وې اسمان کې سرګردانه
تا وېل : ستا اوزما ستوري لټومه
چې د بخت پر منارو یې کړم روښانه

شرهار ته داوبو چې نڅېدلې
ستا د زلفو سلسلې په مکیزونو
د سپوږمۍ رڼا ته سیوري د ښو وو
چې پر سپین بارخو لویدل په تیندکونو

دواړه ناست وو پر ډبره ، پښې اوبو کې
څپې غلې غلې راغلې ستا ښکلاته
ستا وړووړو خبرو ته یې غوږ و
څو زرین کبان راتلو وو زموږ خواته

(c) ketabton.com: The Digital Library



په شوخۍ شوخۍ مې پښو تراوبولاندې
شرنګولې ستا پایزېب کې ورې پانې
چې ناڅاپه د زنځیر کړۍ شوه خلاصه
پایزېب ډوب شو په اوبو کې څانګې وانګې

له موسکا سره دې ګډه غوسه ګُل شوه
ما دې ولیده ګیله د سپوږمۍ ځل ته
چې پایزېب مې راپیدا کړه په چینه کې
لاس دې کوز کړه ان د سپینو شګو تل ته

ما چې لاس د چینې کومې ته وراوږد کړ
طلایي ماهیان په منډه منډه ولاړل
په څپو کې د سپوږمۍ رڼا شوه رنګه
او د ستورو تصویرونه لاس ته راغلل

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا پایزیب مې سپینو شګو کې ونه موند
زرزري کبــانو ، خــدایزده چېــرې وړی
ستا خــوږه غوسه سپوږمۍ تــه ځلېدلــه
زه ولاړ وم ملامــــت پرغـــاړه پـــړی

تــا پـــه تــورو تــورو ســترګو ویـــرولم
دخــوږې شــوخۍ پـــه نــازدې ځـــورولم
چــې یــودم شــوې پــه کتې کتې خنــدا راماتــه
دلامـــده لاس پـــه اوبـــو دې وویشـــتلم

وېل دې: ځه سرنه دې ځار زما پایزیب شه
دسپوږمۍ همدغې شپې ته دې یادګاروي
بنــا پیریو داوبـــو تـــه بـــه یـــې پریـــږدو
دزري کبــانو تـــاج تـــه بـــه پـــه کـــار وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې رڼا شوه ، په چینه کې یې بیا ګوره
زه به ګرځم ترهغو ، یوه پایزېب کې
چې موندلې دې وي ورکه په اوبو کې
چې راوړې دې جوړه وي په خپل جیب کې

هغه شپه چې راروان وو له چینې نه
ستا یوه پایزېب شرنګا کوله
د سپوږمۍ ها سپینو سپینو پلوشو ته
ستا خوږې خوږې موسکا ځلا کوله

ستوري نه دي زاړه شوي ، سپوږمۍ شته لا
خو چینې نه طلایي کبان اوس تللي
د څپو خاموشه غږ ته شپه یوازې
مرجانونه د خندا دې تر ي هېر شوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه يــوازې ، تــه يــوازې ، ژونــد نيمګــړی
ديــوه پايزيــب شــرنګا پــه خــوب ويــده ده
هـــــره ورځ د چينــــو شـــــګې لټومــــه
ستاپايزيب تـه مـې لااوس هـم تلوسـه ده

څــو زنځيــره مـــې چينـــو کـــې دي مونـــدلي
خدايزده کوم يـو يـې جوړه ستادپايزيب دی
چـې درځـم بـه ، اوســتا ورکــه بـه دروړمــه
لاتراوســه مـې تـش تـور سـاتلی جېـب دی

خو ته نه يې ، شپې تيارې دي ، چينې ګونګې
زرزرې کبـــان پـــټ شـــوي پـــه تـــورتم کــې
زه مونــــدليو زنځيرونـــو تـــــه زنګيــــږم
ديــوه پايزيــب شــرنګ نــه شــته پــه دې چــم کــې

۱۳۹۳ - وری –۱۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



# څریکه

هــره ســاه مــې زړه نــه را چــارپېره شــې
ووایــه ، نــو څنګــه بــه مــې هېــره شــې

زه یـــې تېـــروم ، مګـــر تېرېـــږي نـــه
ژوند درتــه ولاړ دی ، چې پرې تېره شې

اوس مې هـم پـه زړه کې لکـه څریکـه یې
غــم چــې شــي ژور ، تــه رابرســېره شــې

زه یــم مــات ســاغر او تــه دمــی نشــه
څــومره چــې زړیــږم ، هــومره ډېــره شــې

زړه ، لکــه یوسـف، لا پــه بــازار کــې دی
راشــه ! خریــدارو کــې بــه شــمېره شــې

۱۳۹۲ زمری ۱۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د تیارې او نور ګرداو

ارامه کېنه

هېڅ مه وایه

ژاړه مه، سترګې دې هم مه رپوه

ته مې کلو نه وروسته

هاغسې ښکلې مخامخ ناسته یې

غواړم باور وکړم ، چې خوب نه وینم

+++

پربېږده چې سترګو ته دې مخامخ په ځیر وګورم

هېڅ په کې نه دي بدل

بس د ځوانۍ د هاغې شوخې جلوې ځای تش دی

یوه مرموزه خواشیني په کې ځپې ځپې ښکلا ویشي

+++

په تورو زلفو کې دې تارتار حنایي کرښې...

(c) ketabton.com: The Digital Library



پو هیږمه د څه نښې دي

هیڅ پسې مه ګرځه ، ژوندون بس همدغه شیبه دی

پرانګو دې هم داوښکو د تنهاکو پښو پلونه وینم

شونډې دي لاهم د ګلاب تر پاڼو نرمې ښکاري

هیڅ مه وایه

خیر دی ،بس یو څو شیبې ارامه کینه

لاهم حیران یم ، چې داته یې ؟

که په خوب دې وینم ؟

لاهم چې مو سکه شې

پرمخ دې

دغوټۍ په څېر د سیوري او رڼا ترمنځ ګرداو جوړ شي

داسې تصویر مې لاهم وژني ، زړه مې وتخنوي

نه ، ته په ویښه مخامخ نا سته یې

پام !

ګیلې پریږده !خیر دی هېڅ مه وایه

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوارم باور وکړم چې خوب نه وینم

غوارم داومنم چې بخت مې ویښ دی

اوبد مرغي مړه شوې...

هو !

ته په ارامه کېنه

هېڅ مه وایه

ژاړه مه ، سترګې دې هم مه رپوه

ته مې کلونه وروسته

هاغسې ښکلې مخامخ ناسته یې

غوارم باور وکړم ، چې خوب نه وینم

۱۳۹۲- اسد - ۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اور ، شپه او مساپر

لامې په ذهن کې بلېږي دا سې
لکه د توري شپې په غېږ کې د بيابان لمبه
چې له يو تللي مساپر هېره شي
مساپر يخ وهلی ،
مساپر لار نه ويني
شاته د اور وروستۍ لمبه ځلېږي:
راشه چې تود دې کړمه
راشه رڼا درکړمه ، ودې سېزم
ببرته راوګرځه ، تياره ده ، شپه ده
راشه يخني ده ، مرګ دی
مساپر ژاړي ، مساپر وړاندې ځي
مساپر اور نه تښتي
مساپر غېږ کې لمبه نه شي وړلای

(c) ketabton.com: The Digital Library



مساپر اور ته شا کړه

مساپر مرګ ته مخامخ ولاړ دی

اور ته چې ګوري

د لمبې ځلا یې سترګو کې د اوښکو څاڅکي لا ځلوي

ستا تصویرونه مې په اوښکو کې همدا سې پټ دي

تا ته مې شا ده او مرګي ته مخه

د ژوند سره تیاره لا پای نه لري

زه، لالهانده مساپر د ژوند په لویه بیدیا

ته مې د ذهن تورو شپو کې شا ته پاتې لمبه

چې نه دې وړای

نه پرېښودلای شمه.

۱۳۹۲ د چنګابنې یوولسمه شپه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# باد

باد

ډیوه ووژله

خو ستا تصویر پاتې شو

لا په تیاره کې دې هم ستر ګو نه ښکلا وریده

باد

د کړکۍ له ګړزولو نه ستو مانه،

پرخپل ځان راتاوشو

او په چوپتیا کې مې ایله

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا د خوږو شونډو کيسه و لوسته

باد

د باران پاسته ګامونه تېز کړل

ماويل

دونو د پېغلوټو ځانګو شنه ګريوان ته لاس اچوي

د باران شرک نه دي ساړه و شول

په مټو کې مې پټه شولې

باد

ستا د غيږې عطرو مست کړ

د نارنجو د غوټيو په غومبورو يې غابښ ولګاوه

لمده چوغکه ترڅڅې لاندې له شرمه سره شوه

باد

هرڅه و کړل ، خو ما پرې نه ښوده

چې ستا لامده وربل ته لاس دروړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیګاه مې تول ماښام دباد شوخي ته مخ ونیوه

چې ستا پرتن باندې لامده کمیس ته لار ونه کړي

باد

چې ترتا ، زه راچاپېر ولیدم

غریب

ستومانه ، لالهانده په ځنګله کې ورک شو .

۱۳۹۳حمل ۳۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بد

درد ،

مستي او غم زما د شپې ملګري

ببګاه مې تا پسې ژړل،

چې مې له سترګو څاڅکي څاڅکي شراب

وڅڅېدل

زه (( بد )) يم

څو مره مې وژړل چې و پو هېدم

زه (( بد )) يم

هره ورځ غواړم چې ستا غږ واورم

هره ورځ غواړم تا ته ووايم ،

چې څو مره مې په زړه وريږې ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



هره ورځ غواړم درته ووایم خپه یم خپه

هره ورځ غواړم یوه داسې بهانه پیدا کړم،

چې بس تا ووینمه

که ته غوسه شې او که هر څه وشي

مګر چې ودې ګورم.

خو هره ورځ خپل دغه تریخ انتظار

د خو ترخو ځاځکو په اورو مینځم

او تا پرې نه خبروم

ځکه له ډیرې ژړا وروسته پوه شوم

زه ((بد)) یم

بد

لکه له سترګو څڅیدلی د شرابو

څاڅکی

۲۲لیندۍ۱۳۹۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



# برزخ

ستا دیادونو

او هېرولو ترمنځ

په برزخ کې

ژوند داسې دی ،

لکه یوه وچه پاڼه

چې له څانګې راپرېوځي

دباد پراوږو

او لا پر زمکه ماته شوې نه وي.

۱۳۹۱ غبرګولی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# رنګ

يو مازيګر دې زلفې،
داسې پر لوڅو وليو خورې شوې
لکه په شپه کې چې د اوبو څپې
د سپوږمۍ له وړانګو سره ګډې شي.

۱۳۹۱ غبرګولی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# برزخ

اوس هم
هرمازیګر ستا دشونډو خوند
او دغیږې عطر
ما
له ستومانۍ ژغوري
هغو کلونو ، عادت کړی یم.

۱۳۹۱ غبرګولی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بېټ نيکه

ټک ، ټک ، ټک
ستو مانه غږ
د بېټ نيکه د ماتې شوې امسا ،
له سوې زمکې د لوګيو تورماران پاڅيږي
لمر ، دود غړن ، لکه له سرو سکروټو وتې سکه
باد په خوني سترګو راغلی ، هديره کې ګډ دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



باد وږی، تږی د کوم سوي وربل وږم بوړبوکۍ ته سپاري
او دیوازې اوراخیستې ونې توري څانګې ،
لاخړ اسمان ته په دعا پورته دي
چوپتیا سندرې وایي
نیکه دلرې زمانې
دغرو له شانه راځي
سترې ستومانه راځي،
هغه خپل لاس
پر خپلو سپینو وروځو پاس ایښی دی،
خو هېڅوک نشته
ان
یو ژوندی سیوری هم نه ښوریږي ،
او دنیکه سترګې پوښتنې کوي:
((لویه خدایه ،لویه خدایه !
ستا په مینه په هرځایه...

(c) ketabton.com: The Digital Library



... دلته دي د غرو لمنې

زموږ کيږدۍ خو پکې نشته ؟

دا وګړي چيرې تللي ؟

لو يه خدايه لو يه خدايه !))

بيټ نيکه غوږ نيولی

چو پتيا سندرې وايي

يوازې باد ته دا يرو ډمې په کرکه ناځي

په دې چو پتيا کې

يونا ځا په له کوم لوري دآسونو د پښو آواز

په نيکه خوږ لګيږي:

((څوک به وي ؟))

په مهربانه نظر ځير شو دافق لوري ته:

((آه

احمد دی، زما سرلوړی بچی

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما د سترې پښتونخوا ه شهنشاه

له خپل و يارلي لوی لښکر سره به چيرې د رومې،

چې لړ ترې و پوښتم ؛زما د ستر ټبر کډه په کومه تللې ؟

آسونه ځغلي

ليوني آسونه

آسونه باد سره همزولي ،

خونړ و سترګو نه اور بادوي

خو تر آسونو مخکې

يو څوتورسرې ، ماشومان ، بوډاګان

په پښو

کله راوپرځي او بيرته هسک شي

سپاره په تورو ورنه وريبي ببر سرونه

اوزمکه ژر له تندې وزغمي ماشومې وينې

نيکه حيران پاتې دی

څوک ، ولې ، چا ...؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



او دیوازې اوراخیستې ونې تورې ښانګې

لکه دعا چې کوي:

بابا ! داګرده ستا سکه بچي وو

ځوک په آسونو سواره

او ځوک ترمخه دمرګي پر مزله

یو په یوه مذهب او بل یې له کوم بله خېله

او س ستر احمد نشته ،

همدادي ستا دکور وګړي...

نه !نه !

نیکه ،پرزمکه اوښکې وپاشلې

که خاوره ترېږ وي ، دا اوښکې یې (( دمور شیدې سه ! ))

زما دبچو وینې دې ببرته راکړي.

هاغه دی زما دننګیالي هوتک دتورې آواز

ورځم لمن یې نیسم

زویه !

(c) ketabton.com: The Digital Library



له ورونو نه دې ورونه بچ کړه

د تورو لاستي مات کړه

هله میرویسه زویه...

خو دیوازې اوراخیستې ونې تورې ځانګې

لکه دعا چې کوي:

نه بابا داسې نده

دا دهوتک دتورې غښتلی ، داستا لمسي دي

چې یوله بل څخه ورمېږ پرې کوي

یوه ته پارس کې چا ماغزه ورکړي

بل د پرنګ له ابلیسانو نه سبق ویلی

یوله عربو نه کڅوړه پرشا

بل دترخو پاتیو دیګ ته ناست دی

خپل بچي وژني دآجوج او دماجوج په نامه...

نه !نه !

نیکه دخپلې شملې څنډه ترغاښونو لاندې ونیوله

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما بچو باندې يې کوډې کړي

زما بچي ويده دي

هاغه دی زما غازي امان مشال په لاس ولاړ دی

ورځم ، چې ويښ يې کړي ، کتاب ورکړي

ددې دنيا له رڼاګانو نه يو باب ورکړي...

خو ديوازې اوراخيستې ونې تورې څانګې

لکه دعا چې کوي:

بابا ! امان ندی ، غازي دې ندی

هغه يې وخته لا دکفر په نامه شړلی

بابا ! مشال نشته رڼا يې نشته

دا خويې ستا پر زړه مېنه باندې اور بل کړی

چا ورته راوړل دګاونډ له کوره تور لاسونه

ستا دکلا په برج يې اور پورې کړ

چې پرې الف اوبې بيا ونه ليکي

ستا دخوږو لمسو په لاس کې تختې وسوزيدې..

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه !نه !

لمسي مې څارشم

که د شیطان سترګې لمبې غوارې زما پر مېنه

زما هډوکو ته دې اور واچوي

خو زما د ښکلې ملالۍ وربل ته اور مه نیسئ

زما دلمسو د کتابو بورجل ته اور مه نیسئ.

نیکه سلګۍ وهي

په ملا ماتیږي

نیکه ، د سپینو وروځو لاندې ځلید لې سترګې

دخړ اسمان تتېر ته پورته کړلې

او د یوازې اوراخیستې ونې ډډ ته کیناست

بابا لاسونه د دعا اسمان ته لپه نیسي :

لویه خدایه ، لویه خدایه !

ستا په مېنه په هرځایه

غر ولاړ دی درناوي کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټوله ژوي په زاري کې
دلته دي دغرو لمنې
زموږ کيږدۍ دي په اورسوې
پکې ډير کړې لو يه خدايه
لوستي ، لوستي داوګړي
په سرونو کې يې پوهه
او په زړونو کې يې مينه
لو يه خدايه لو يه خدايه
دلته موږ باندې اوربل دی
تورلوګی دی توربورجل دی
مينه ستا کې موږ ميشته يو
بل دچا په مله تله نه يو
هسک او مزکه نغښته ستا ده
دمړو ، وده له تا ده
داپالنه ستا ده خدايه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لو یه خدایه لو یه خدایه

پکې ډېر کړې لو یه خدایه

لوستي، لوستي دا وګړي

په سرونو کې یې پوهه

او په زړونو کې یې مینه

لو یه خدایه لو یه خدایه.

۱۳۹۰ د کب دربیمه

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ورکې سترګې

# او له سترګو ورک سړی

له ډېرې تندې مې ستومانه بدن څړيکې وهي
او له پښو نه مې دوينو څاڅکي کرښه کرښه
دبيابان په وروستنيو شګو ليکي دمزله سندره
دادی دښار پر دروازه ولاړ يم
داسې څوک شته ؟
چې مې خړوب کړي،
چې يو يخ جام راکړي دسترګو د موسکا له چينو ؟
هه !
څومره بېځايه تمه
څومره ناپايه هيله

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه پردیس ، مګر په دې بازار کې څوک پېژني ؟
نه مې لستوڼي کې درهم شته نه کیسه کې سکه
څومره بدمرغه ښار دی
څه ناخبره ښاریان
هېڅوک به خپل اتل ونه پېژني
دټولو هېر یمه ، دهرچا له خاطر وتلی
مګر ددې بازار له منځه هاغه دوه سترګې اشنا دچا دي ؟
څومره خوږې دي ، څومره ښې لګیږي ؟
کلونه وړاندې، دسفر په لومړني منزل کې
زماپرماشومو پاپلیو او زلمیو شیبو
داسې خوږې داسې مغرورې سترګې
ما سره مل له دغه ښاره ولاړې
هغه کلونه ، د رویا په ټال کې وزنګېدم
او دسفر په لومړني توپان کې
هغه دوه سترګې رانه ورکې شولې

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا تلمه تلمه دځوانۍ په لوري

هی میدان و طی میدان وخار مغیلان

چې پر کوچۍ لیلا مې پېښه وشوه

یوه شپه دمه شوم

ترزلفو لاندې خوب راغی

دژوند ستومانه ساه مې دمه کړله...

خو ګلغوټۍ په غوړېدو وه چې راویښ یې کړمه

دژوند له دمې یې راپاڅولم

یوه د اور په لمبه رنګ ګلغوټۍ

یوه نازکه پاڼه ډکه

له سکروټو دعشق

دګلغوټۍ دمینې اور رانه کوچۍ هېره کړه

لکه پیریانو وي نیولی

لکه کوډو بنګسارکړی سړی

دژوند په وچه په سوزانه دښته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما خپلې اوښکې ګلغوټۍ ته ورکړې

چې رانه مړاوې نه شي

خو زما په اوښکو د سکروټو اورلمبه لمبه شو

ګلغوټۍ وسېزلم

ګلغوټۍ دود شوه ګلغوټۍ ولاړه

زما د سفر وروستی منزل يې ددوزخ درشل کړ...

تردې مې وروسته هرڅه هېر دي ، هېڅ مې نه يادېږي

اودادی زه دژوند ستومانه پردېس

له ډېرې تندې مې ستومانه بدن څړيکې وهي

او له پښو نه مې دوينو څاڅکي کرښه کرښه

دبيابان په وروستنيو شګو ليکي دمزله سندره

خو ، په دې ښارکې دچا نه يم په ياد

مګر ددې بازار له منځه هاغه دوه سترګې اشنا دچا دي ؟

څومره خوږې دي ، څومره ښې لګيږي ؟

يوڅوک دې دومره راته ووايي چې :

(c) ketabton.com: The Digital Library



هاغه دوه ستړګې د رویا دي ؟

د کوچۍ دي ؟

که د هغې اورنۍ ګلغوټۍ ،

چې یې زما د سفر لاره له لمبو ډکه کړه ؟

په ټول بازارکې همدا دوه ستړګې دي

چې لا زما لپاره مینه لري

خو زه ترې ورک یم ، ما موندلای نه شي

او زه لا نه پوهېږم

چې زما له دربیو منزلونو څخه

دغه اشنا ، دغه خوږې سترګې د چا پاتې دي ؟

۱۳۹۱ وږی ۹

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تاریخ ملنډې وهي

((ابن سینا )) لاهم له بلخه تښتي

((خوشال)) دخپل ولس په بده بد مرغۍ خواشینی

دومره غوسه دی

چې دتورې تیغ یې موټي کې دوینو فوارې جوړوي

دتاریخ باد د (( مارکس )) په ږیره کې پټ شوی

پاڼې پاڼې (( کاپیتال )) اړوي

دلته په وچ ((زرنګاربڼ)) کې څو زلمي

یو دبل وینو ته دتندې په سیاست لګیا دي

د((سید جمال)) په ورکې مېنې پسې سترېو خلکو

دهغه ټوله وینا ومینځله

یوازې یو ټکی د (مرګ) په کې روښانه پاتې

او ((ماووڅونګ)) لکه دلوی ښامار وړوکی چینجی

لاهم دڅو (روښانفکرانو ) په مغزو کې ښوري

(c) ketabton.com: The Digital Library



له ((قم)) نه هره ورځ راځي د (ماتمونو سياست)

او د ((قطبينو)) مريدان لا د جګړو په اربړميو سترړي.

موږ د تاريخ د خونړيو کوڅو ورک لاروي

چې ((نن)) مو هېره او ((سبا)) مو په ډبرو ويشتې

لا هم د ((خړو څڼورو)) ((پينځه ګون)) ته لاس د سوال نيولی

او يا لګيايو ((کله دارو)) باندې غرونه او سيندونه پلورو.

تاريخ شاهد دی

او په موږ پورې ملنډې وهي.

۱۳۸۹ کب ۲۴

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تشه

دروازه وټکېده ،

زه مې د مور کوټې ته ورغلم چې ويې پوښتم:

مورې ځادر مې چيرې...

تشې کوټې په مخ څپېړه راکړه

او چې کتل مې

بهر

بيا څه خپلوان وو د مورکۍ په فاتحه راغلي.

۱۳۹۱ سلواغه ۲۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ته او هره شپه

کړۍ کړۍ لوګي او ستا دزلفو تاو راتاو
د شیشې غاړه کې قل قل او ستا د سترګو ځمبل
څرخ راڅرخ پر پیاله بله لمبه
ګرده راګرده ستا دشنې لمنې ښکلې جلوه
زما یې مستۍ سره څه ؟
زه خویوازې له دې ټولو څخه
ستا دتخیل لپاره رنګ اخلم
زه ستا تصویر هره شپه دا سې پر خپل ذهن کاږم.

۱۳۹۲ ثور

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ګناه او ویاړ

ځمکه ځای نه راکوي
چیرته د ناستې ، یا د ملاستې
د قدم وهلو
چېرته په دوه پښو د څو شیبې ولاړې ځای له چا وغواړم؟
د ټولو زړونو دروازې تړلې
د ټولو سترګو کړکۍ بندې
ټولې خولې خلاصې دي
په دې وطن کې مینه لویه ګناه
او تر ټولو لوی ویاړ د انسان وژل دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# هغه ښکلې تللې ورځې

ها وختونه ، تېر وختونه
چې ایمان ولا په زړو کې
نه شپېلۍ کې د ټوپکو
هلکان وو ، په ترپکو
جینکۍ وې په چکچکو

څه وختونه ، تېر وختونه
چې نکریزو کې لا رنګ و
د شپانه رباب ترڅنګ و
چې ناوونو کې رمې وې
او نغریو کې لمبې وې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښه وختونه ، هاغه ورځې
چې به پلار بزغلي راوړل
چمچه مست به شنيلي راوړل
د کور شاته به نارې شوې
بنجاره به بنګړي راوړل

هاغه شپې په ستوريو ښکلې
چې ديوان به ټول بندي وو
د انۍ خوږو کيسو کې
ښاپيرۍ به ګرځېدلې
زموږ د ښار خړو کوڅو کې

هاغه ورځې ، تللې ورځې
چې ملا به هم مين و
د چړيانو به مېلې وې
په شړشمو غوړې څنې
د رنجو به يې وسمې وې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ها غه مستې ، خوږې ورځې
چې جګړه وه ، خود سترګو
غلا به وشوه د مچکو
چې به پټ دیدن ته ولاړو
کرکړې به شوې د چرګو

څه وختونه ، تېرو ختونه
شورماشور د زاړه ښارو
چې و دان د سات منارو
نه لونګۍ وې سیاسي شوې
نه په رېږو د چا کارو

ها روښانه د خدای ورځې
چې پرخوله و ، د عشق توری
چې لاهسک و زمو رستوری
چې هوښیار سړی وزیر و
چې پاچا و د خدای سیوری

(c) ketabton.com: The Digital Library



هاغه تللې ښکلې ورځې
چې د مور د لاس ډوډۍ وه
ورنه ډکه به شکرۍ وه
د چارماغو به لمن شوه
د ممیزو به خولۍ وه

هاغه ورځې مې ارمان دي
هغه شپې مې را یادېږي
مورکۍ بیا دې زنګون کېږده
ستا کیسې مې را یادېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خندا

چېرتــــه دي شـــراب ارغـــواني يو جـــام ؟
راکـــړه ستاد شـــونډو الـــواني يو جـــام

لاس د ســپرلي ښــکلی شـي چـېږ وشــيندي
ســـــتاپرتوروزلفوباراني يو جـــــام

تــــادې کلــه ســترګو نــه پوښــتلي دي ؟
چېرتـــه يـــې څښـــلی رحمـــاني يو جـــام؟

ســـتاپه کـــوثري خنـــدامې خولـــه ميـــنځم
څښـــــمه ايتونــــه اســــماني يو جــــام

اې د ښکلا ســـينده پرســـر وامـــې خلــه
نـــن مـــې اړولـــی مرجـــاني يو جـــام

۲۳ حمل ۱۳۹۴

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زه خوشال...

راغلم بیا ، چې د خپل ولس پوښتنه وکړم
د دې خپل نارامه روح خوښنه وکړم
د څلور پېړیو ګرد مې دی څنډلی
چا ویل چې ځینې خلک رسیدلي
د سپوږمۍ په پلوشو اسمان ته تللي
نور نو هاغه د پرنګ ټوپک زوړ شوی
او شراب پرتګالي نشته په هند کې ،
د مغولو پادشاهي ده رنګه شوې
رنتهبور له بیخ وبُنه نړیدلی
راغلم بیا چې د افغان پوښتنه وکړم
خو عجیبه زمانه ، عجیب دستور دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو سپين ږيرى غضبناك يې انځور کړى
په تصوير کې يې غوسه ښکاري دوه سترګې
داوږې شاته يې ښکاري پره داره
ښه تېره نيزه ولاړه، تر ده هسکه
او پرسر يې پولادي نيم منى خود دى
پرې ولاړې هسکې هسکې منارې دي
دې بوډا په يوه ډال ده تکيه کړې
ترملا پورته يې د تورې قبضه ښکاري
تريو اړخ يې د تېرو غشو کڅوړه
خدايزده بل لاس کې يې څه د جنګ سامان دى ؟
وايي: دازموږ نيکه خوشال خټک دى
چې هرچا ته په خوله ډک لکه ټوپک دى
په ديوال هم د مکتب په کتابو کې
په کابل او دخيبر په هسکو غرو کې
زه حيران يم خپل شامت او خپل قسمت ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



دخپل ولس ناسم خیال ، نیمګړي نیت ته

زه شاعر ومه دمینې او دحُسن

زه حکیم دزمانې ومه ، عاشق وم

داریښتیا ده ، چې دولس په ننګ ولاړ وم

له مغول سره یو لاس او بل ګریوان وم ،

خو له تورو او له غشو سره وران وم

مادستار و دمشرۍ پرسرتړلی

( ددستارسړی ) مې ولس ته و ښوولی

زما دوسپنې په خود کې زړګی تنګ و

له نیزو له تورو کرکه مې په زړه وه

دحکمت اوعشق خبره مې په خوله وه

هغه سر چې دښکلا دربار ته ټیټ و

اوس پرې اینبې پولادي خولۍ له پاسه

دحکمت دستار ښېرلی زمانې دی

زما دولس دقهرجن مزاج له لاسه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا سمان هسک ته ختلي خلک نوردي
افغانان لاهم دجنګ په غم نسکور دي
هېڅ دعقل، دډوډۍ مشر يې نشته
دسياست او دروزۍ مشر يې نشته
لاشرمېږي نوم دمينې په خوله نه وړي
خودوينې بهولو ته ولاړ دي
ما دتورې او دننګ په نامه ستايې
او په خپله بس دجنګ په نامه پايې
زماپه هرکتاب کې زر دپند خبرې
يوله بل سره دمينې ها سندرې
بس دوی ټولې هېرې کړې دي بېباکه
تش دجنګ په کاروبارکې دي چالاکه
زما کرکه له دې خپلې خبرې کيږي
له نيزې نه مې اندام اندام ريږديږي
دمغولو دکاپرو د پرنګو
دا سونو دپښو غبار ته ګوره

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې زما په قبر څو لويشتې انبار دي
دافغان کوڅې ويجاړې کوريې ړنګ دی
ژاړي وايي چې داټول لاس د پرنګ دی
له کتاب او له قلم سره يې ورانه
نه دکار شو نه د زمکې نه د څپر
لا يې خپل تربورته تاو دي بريت دفخر
نه شرميږي لا په خپل ناولي فقر
د پنجاب او د مغول ډوډۍ ته ناست دي
دبل ګټې خټې پر مخې لا ملا ست دي
ځمه ځمه بيا به رانه شم دې ولس ته
چې ويشلی لا په ( زي ) دی يا په ( خېل ) دی
دغيرت په نامه ولړه کې لا ښکېل دی
چې پوره څلور پېړۍ کې هوښيار نه شو
دغه ولس زما په چيغو بېدار نه شو
چې لاهم په توره نازي ، په جنګ وياړي
انسانيت ته دغه قوم په کار نه شو .

۱۲/۲/۱۳۹۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دا به څه وي؟

دابه څه وي ؟
چې په تیاره کې د جوړه سپینو کوترو په څېر
یوه له بلې ښخه تاوه شي
راوڅرخیږي
او په هوا کې
درنا یوه ځپه جوړه کړي؟
دادشاعر د معشوقې لاسونه
چې د محبوب لپاره وناڅي
په تور کمیس کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د څوړ يوو ترمخې

د شپې په توره بخملي فضا کې

دا به څه وي؟

لکه يو سور څراغ چې بل شي

او سترګک ووهي

يا دلمبې په څېر بڅرکي باد کړي

د شپې پر غاړه چاړه وځلوي

دا د شاعر د معشوقې ګريوان کې

يو سور ګلاب دی

په نڅا نڅا وربمه خپروي

دا به څه وي ؟

چې لکه ستوري د سهار پر لمن

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو يو راولوېږي رڼا کې ورک شي
دادشاعر اوښکې دي
چې هره ورځ د معشوقې دلاس کوترو ته اوبه ورکوي
او دګريوان پر ګلاب
لکه شبنم پريوځي

۱۲غبرګولی۱۳۹۰
کندهار

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د خپلې کليزې له ويرې

درې ورځې وروسته مې کليزه ده ،

دغم کليزه

درې ورځې وروسته مې د ستړي ژوند يو بل پيټی پر زمکه ږدمه

درې ورځې وروسته د مرګي خواته بل ګام اخلم

سبا روان يم، په سفر وځمه

هسې هم هېڅوک ، نشته

چې راته وو ايي:

لېواله ! مبارک دې شه دا نوی سپرلی

زه مې له خپلې بې څراغه ، بې خوږو او بې ډيو ې کليزې ويره لرم

دا سې کليزه چې ستا ستر ګو ته کتلی نشم

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه مې کلیزه کې همدا سې مسا پر بنه ایسم
د کب شلمه مې دژوند له کالهېنداري باسم.
دخدای پامان زما دژوند په رنځ ککړه کاله !
دخدای پامان زما ستومانه عمره !
دخدای پامان له مانه ورکې مینې !
د
خدای
. پامان

۱۷ کب ۱۳۹۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تاته!

# یوه بله عاشقانه

چې د زلفو دوړمو خپې دې ولاړې
له هغې شپې زما خوبونه په ناتار دي
چې دې زیرې دراتلو ورسره نه شته
څه بد رنګه ما ښامونه د دې ښار دي

چې لمن دې څرخ ونه خوري په هواکې
د ښکلا خوشبويي ورکه ده له ژونده

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړه مې لوېږي ، لوېږي ، لوېږي ، پسې لوېږي
چې دې نه کړ په پيکي پورې ځوړنده

ستا د شونډو سيوري نشته په پياله کې
بې رنګۍ کې د شرابو نشه سوزي
چې خوله دې پرې شبنم غوندې نه څاڅي
بې عطرۍ کې د ګلابو نشه سوزي

ستا ګريوان خو زما له سترګو څخه تښتي
چيرې پټ شم له دې دومره هياهو نه
چې پر لېچو دې نور سر اېښودای نه شم
چېرته يوسمه دزړه سوي اهونه

دهغو مازديګريو دې ياد تل وي
چې به سيوري زموږ يو شول سره دواړه
په موسکا به دې کړې پټې تورې سترګې
زماساه به تخنوله چې ستا غاړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا به هسې مازدیګر کله رانه شي
چې ته راشې په وړو وړو ګامونو
او بیا نښه زما په سپینو جامو کېږدي
په شوخۍ ، دخپلو شونډو دسرونو

۱۳۹۲ سلواغه ۱۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



معصومې ملالۍ یوسفزۍ ته یوه پښه خوله دعا

# بیرغ او ډیوه

د سواتې ملالې سپینه غاړه سره شوه
یوه سره ګولۍ په ګلو کې سره شوه

ډز شو، ډز سره دره کې انګازې شوې
د ملالې سلګۍ عرش کې اوازې شوې

د ملالې لاس نه لویږي کتابونه
له دې شرمه ګوره! ریږدي د سوات غرونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ملالې وینو رنګ کړې سپینې پاڼې
په لړزه شولې ګورګورې او ممانې

د ملالې خولګۍ وچه وچه کیږي
لکه ژبه د دیوې باد ته رپیږي

د ملالې څاڅکي څاڅکي وینه تویې
نن ماښام ستوروته لاس پورته کړه مورې

له هر څاڅکي به یې زیږي زر لمرونه
پرې تو دیږي به کتاب ته نا ستې نجونه

د میوند ملالې توغ ته دې سلام دی
ستا بچو باندې او س هم علم حرام دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتنو غرونو کې ګرځي یوه څړیکه
دهغې ده که ددې ملالې کړیکه

یوه وتې دوطن بیرغ په ننګه
ددې بلې کتابونه دي ترڅنګه

په دې ولس کې خدای پیدا کړې دوې ملالې
دوطن او پوهې ځلنده مشالې

ملالۍ !دوینو څاڅکي دې غمي شه
دوښمنان دې ورته دود شه سپیلني شه

لاس دې راکړه چې دلمر کلي ته ولاړ شو
ددې ولس دوینښتابه ځلي ته ولاړ شو

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه نه ، زر ملالۍ به راپسې شي
پرې رڼا به د کابل او سوات شيبې شي

لاس دې راکړه چې دلمر کلي ته ولاړ شو
د دې ولس دوينبتابه څلي ته ولاړ شو

۱۳۹۱ تله ۱۸

مسکو

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د شاعر آزار وهلې ته!

ته به هر څه ولرې
په دې دنیا کې هرڅه
او د هغې دنیا د ټولو جنتونو ښکلا
خو د هیڅ شاعر د ښکلاګانو ملکه به نه یې
او تا به بیا څوک تر قیامته پورې
دیو رسوا شاعر د زړه ملکه ونه ګڼي
ته به د هر شعر په سرلیک کې نه یې
او د سندرو په هیڅ ترنګ کې به ته نه ښکاریږې
ځان سره فکر وکړه
اوس دې نو ژوند څه مانا

(c) ketabton.com: The Digital Library



تا هيڅ و نه ګټل

او

هرڅه دې له لاسه ورکړل.

خو تر دې لا لويه ګناه

چې د شاعر په جنتي ارواکې

ستا د ستم له لاسه

د ښکلو ښکلو نغمو

ملکوتي چينه اوس وچه او سپېره پاتې ده

د دې چينې تاوان به ستا د ښکلا هېڅ خزان پوره نه شي کړای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دغه بې غمه خلک ...

باد له کړکۍ سره

راوڅرخېد

، اتڼ يې وکړ

اوډيوه ورپېده

لوګی

کړۍ کړۍ په ملا راتاو شو

يو سيورى وښوريد

غمجن سر يې راپورته نکړ

سيوري کوم څه ورک کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



***

نن شپه سپوږمې
د سپینو وریځو په پاسته پالنګ کې خوب وړې ده
او د غره خواته
یوه ښکلې ده لا ویښه ناسته
د یوه ورک سیوري لپاره ژاړي
یوه رښه او ښکه را څاڅي
د یوه ورک سیوري پر هغه تصویر
چې لا هم خاندي غوندې

***

باد او باران
دوا ړو ته ګوري

(c) ketabton.com: The Digital Library



او ددوی پر بې وزلۍ ژاړي

سپوږمۍ ددواړو نامراده مینه خوب کېویني

خو...

دغه په خوب تللي بې غمه خلک

دداسې شپې له دومره ډیرو غمو

څه خبر دي؟

۱۳۹۰/دمني دولسمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نوې املا

ماین په (الف) لیکئ

چې:

له (مین) سره یې فرق وشي

هسې هم

نن سبا

په دې وطن کې

له مینانو نه ماینونه ډېر دي

او

(c) ketabton.com: The Digital Library



(ټوپك)اسم مذکر دی

(ټوپکونه) يې جمع

دې ته ( ټوپکې ) کارول ناسم دي

ځکه ټوپکې د ماشوم

منډو رامنډو سره

ښې ښکاري

سپېڅلې لوبې په بدرنګه نومو مه يادوئ

۱۳۸۸ شپږم پېشلمی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ولسمشر لومړی فرمان

خپلو سپېڅلو ماشومانو ته
ټوپک او تو مانچې مه اخلئ

بیا

په نانځکو باندې

دزې کوئ

۱۳۸۸ شپږم پیشلمی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ګوتمۍ

دوطن ګوتمۍ ده تشه
يو دعشق شين غمی غوا ړي
زړونه ټول کنګل وهلي
دموسکا پسرلی غوا ړي

خلکو ! پاڅئ ، هله ووځئ
پرېښته يې درنه يووړه
تورکوډګر دکرکې راغی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## عاطفه يې درنه يووړه

وريدلي ګولۍ ډيرې
دوطن پر ښارو زمکو
شنه غنم به پرې زرغون شي
دکوشنيانو له ترپکو
هلئ غږ کړئ ! ښکليو خلکو :
(( اکو بکو ، سرسيندکو ! ))

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ډایناسوران څه شول ؟

زرګونه پېړۍ پخوا

ډایناسوران دلته‌وو

او سوله‌وه.

ونو پاڼې کولې

زمکه‌په‌ونو پوښلې‌وه

ددوی او سولې ترمنځ تړاو ایډیولوژیک نه‌و

دوی پاڼې خوړلې

او پاڼې ډیرې وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زرګونه پېړۍ وروسته

یو بل ځناور راغی

ددوی ترمنځ د سولې او جګړې ترون

ایډیولوژیک و

دوی ډوډۍ خوړله

او

ویره یې دا وه چې ډوډۍ به خلاصه شي.

دوی د جګړې لپاره

ایډیولوژي جوړه کړه !

ډایناسوران له شرمه ویلې شول

او ځاځکي ځاځکي

پر خپله ګرانه زمکه ننوتل.

ډایناسوران

دا ایډیولوژیک جنګ له شرمه ورک شول

خو لاهم

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه یو بل ځناور

دا یډیولوژۍ په خونړي لټون کې

د ډایناسورانو هغه ورک

هغه راپاتې فوسیلونه په ارام نه پرېږدي.

او...

جنګ لا هم روان دی.

۱۳۹۳ - سرطان - ۲۵

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ډبرې

زه
تر (( سنګ نوشتې ))
لږ ورپورته زيږېدلی يم
او خاپوړې مې د تاوخانې پر تودو ډبرو کړې دي
الفبې مې
د سپينې بکرې په رنګ زده کړې
او لومړنی نوم مې هم د (( چينو غونډۍ )) پر يوه ډبره کښلی
له ښوونځي چې تښتېدم
نو د ډبرو پر ديوال اوښتم
او په کور کې مې کله کله د ډبرې پر بالښت سر لګاوه
خپلوانو مې په ډبرو کې پوسته درلوده
او تربرونو مې د ډبرو له مورچې څخه پر هغوی ډزې کولې
يوه کليوال مې د خپل کلي موټروان په دې نامه چې
کوم دښمن ته يې راپوټ ورکاوه
پر يوه ډبره ځملاوه
او په بله يې پرسر وويشته
اوس هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



له ډېر وسره ژوند تیروم

پاچا مې ناست دی د ډېرو منځ کې

زما ښار ډک له ډېرینو دیوالونو څخه

پر لاره ایښې دي بې شمېره تیږې

هیواد مې درې پر څلورمې خاورې

له تورو غرونو او ډېرو ډک دی

د دې ډېرو زړه کې ډیر لالونه

خو زما په برخه یې لیکلي نه دي

زما استاد وایي چې موږ په (ډبر پېر) کې اوسو

خو زما په خامو لارو

او په ختېینو کوڅو

څوک د ډبرو لاره نه جوړوي

هغه چې زه ورسره مینه لرم

د هغې هم زړګی له کاڼي جوړ دی

زما ډوډۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



راځي دژرندې له دوه تيږو څخه

او زما مينه يوه ورځ وه مخامخ پر يوه تيږه ناسته

چې له دوه سترګو يې بېشمېره اوښکې تويې کړلې

خو دهغې اوښکو په تيږه هيڅ اثر ونه کړ

زه ډبر پېر کې اوسم

کله چې و مرمه هم

دڅوډبرو منځ کې

تر څو ډبرو لاندې

يوه کوچنۍ کليمه داره تيږه سرلاندې ږدم

او اې زما مينې !

چې زړګی دې له ډبرې جوړ دی

له مرګه پس به هم زما دقبر تيږه تاته تمه کوي

چې ته له خپلو تورو ښکلو سترګو

دانه دنه اوښکې پرې وبهوې

اويا دشناختې ډبرليک کې زما نوم په خپلو شونډو ښکل کړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه ،

نه

زه او ته‌دواړه ،

ډېر پېر کې اوسو.

۱۳۹۱ وږی ۱۹

***((سنګ نوشته ))او((چینو غونډۍ)) دشاعرپه‌کلي کې‌دوه سیمې.***

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زمـا جـېلوانې!

ما او جانان بې له يو بله اوس عادت کړی دی
له خدايه ځار شم څومره ژر يې قيامت کړی دی

د دود د ستور د جبر کانې مو پر سر پرېوتې
موږه د عشق له تهول اختياره بغاوت کړی دی

ماهيروي ، مګر له زړه نه مې شړلی نه شي
چا د جانان له خولې نه داسې روايت کړی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



لرم د ټول ښایست د ټولو ښکلاګانو سواد

ما خو ټول عمر ستا د سترګو تلاوت کړی دی

زما د زندان دیوال له ما سره خبرې کوي

زما خوږې جېلوانې زما د قتل نیت کړی دی

۱۳۸۹ وږی ۷

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زمـزمـه

هو ،

هو ،

هو !

مجبور شوم ، بیرته راغلم

ډیر ملامت ، ډیر پښیمانه

پوهیږم نه ، چې ولې ؟

ددې ستومانه ژوند راپاتې یو څو نورې ورځې

غواړم همدلته اوسم.

پوهیږم ، نور به دې دزلفو سیوری نه وي راخپور

او سرو غرمو داننګو ته به هم نه یم پاتې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو د خپل غرېږ په سندريزو څپو

يو ځلې بيا زما د نوم زمزمه ، مه هيروه

غوارم چې بيا يې واورم

(( غفورجان ))

ستا په ژبه ښه ښکارېږي.

۱۳۹۲ وږی ۲۷

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ژونـــد

ژوند ژوند ژوند
ژوند ښکلی دی

لکه درسم کتابچه کې د ماشوم دنیا
چې په اسمان کې یې رازوړند کټ وي
چې خور یې خاندي
دابا سر یې له لمره غټ وي
له دې دنیا سره همدغسې چلند ښکلی دی

ژوند ژوند ژوند
ژوند ښکلی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



آیینه مصاف کې چا ته
ترزرین شال لاندې هنداره کې لومړۍ موسکا
اوبیا له لاسه نیول
سور په نکروزو یې دناوې سپین مړوند ښکلی دی

ژوند ژوند ژوند
ژوند ښکلی دی

لکه غنمو کې د غیږو ایستل
لکه ګانې سره راتاوه منډه
لکه ناوې نه رار وانه شیره
لکه یو خوږ ګنی همداسې بند په بند ښکلی دی
ژوند ژوند ژوند
ژوند ښکلی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



په وړو ګوتو یې زري کې تاو کړه
په اشارو ورته غوسه غوندې شوه
ورو یې په اړخ باندې راواړوله
بیا ورته کټ کټ له خندا نه شنه شوه
وړې نانځکې سره دغسې پیوند ښکلی دی

ژوند ژوند ژوند
ژوند ښکلی دی

دکمپیوټر په پرده راغی مسیج
دیوې مینې څو خوږې اشارې
په مسینجر کې یې ځواب غواړي
له چانه ورک دي ټول ښایسته لفظونه
ناست ورته لاس ترزنې ژړی فکرمند ښکلی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژوند ژوند ژوند

ژوند ښکلی دی

د قرائت کتاب کې د وه ننبې دي

یوه ښکه د تاووس بل د جانان تصویر

په ازموینه کې د نقل یو ورو کی کاغذ

او د رحمن بابا غزل سره د سترګو رسم

په مړاوو سترګو کې د پټو غمو خوند ښکلی دی

ژوند ژوند ژوند

ژوند ښکلی دی

نو

یه خلکو خلکو خلکو !

ښکلو خلکو

مه نیسئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژوندون ته ټوپک مه نیسئ

دار څخه پړي واخلئ

بار له یو سترګي واخلئ

ښکلی دی عشق ښکلی

دژوند خلی دی

ژوند ژوند ژوند

ژوند ښکلی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ســـاره

سږ کال به هېڅکله سپرلی رانه شي.

له مودو وروسته مې ته ولیدې،

په سترګو کې دې مینه نه وه.

کب۱۳۹۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ستا دکرکې په شېبوکې

او

راځه اوس درنه پوښتنه کوم

کلونه وروسته

دبې رنګه ژوند په دې شیبو کې

بالاحصار

او دزاړه ښار هاغه ستوغه لاره

دشهدا دهدیرې قبرونه

هغه ډبره چې زما اوستا کیسو ته غوږ وه

خواجه صفا سره یو ځو د ارغوانو بوټي

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما پر ټټر باندې دې لاس کېښوده

تاویل:

ته و در بېږه !

وګورم

چې زړه په کې شته ؟

او زما له زړه دراوتلیو اسویلیو څپو

ستا وربل وخوځاوه

نو

راځه او س درنه پوښتنه وکړم

چې زه او ته ولې زاړه ښار ته تلو ؟

هغه غرمه ، هغه د بڼ پسرلي نرم باران

د عاشقانو عارفانو په زیارت کې د مه

په هاغه ورځ مې څنګه

زړګي ، دا ستا تر تاوده لاس لاندې وزرونه وکړل؟

خدایزده د زړه درزا مې ستا په غوږ کې څه وویل

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې په رنجو ککړې اوښکې دې پرمخ لیکه شوې ؟

یوازې زه پوهیږم

چې د خوږو شونډو ترپاسه د مالګینو اوښکو خوند څنګه وي

کلونه وروسته

لاهم

ستا له ګریوانه د نرګسو عطر پېژنمه

او

اوس چې ته له مانه کرکه لرې

خیر دی

له خپلې ټولې کرکې سره

راځه چې بیا پر هغې لارې ولاړ شو

خیر

که خبرې دې زړه نه غواړي

نو هیڅ مه وایه

مګر راځه چې تر هغې ډبرې بیا ولاړ شو

(c) ketabton.com: The Digital Library



راځه

راغلا به يې کړو

هغه ډبره زموږ ډيرې کيسې زړه کې لري

داخو منې چې ژوندون لږ پاتې دی؟

يوه ورځ دا مزل هم پای ته رسي

زه او ته دواړه

يوله بله لرې

نن يا سبا به شو دخاورو مېلمه

راځه هغه ډبره نيمه کړو

دوه شناختې يې کړو

نيمه زما او نيمه ستا پر قبر

ترمرګه وروسته به زموږه شناختې

هغه کيسې موږه ته بيا ووايي

او دډبرو په هنداره کې به وځليږي

دهغو ورځو هغه تيرې ، هغه هيرې شيبې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه پرشوندو د مالګینو او ښکو سپینه څلا
او لکه ستا له ګریوانه ، نه د نرګسو وږم
لکه سپرلي کې د باران د پستو څاڅکو غزل
او لکه زما پر ګوګل ستا د لاس تود ه پوښتنه
ودرېږه وګورم

چې

زړه

په کې شته ؟

۳ سلواغه ۱۳۹۱

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ستا له يادونو سره

ما درپه ياد کړه
او خپل زړه ته دې ريښتيا ووايه !
چې زما يادونه درسره دي که نه؟
هغه لومړی پسرلی
دښار نمجنې کوڅې
او ستا پر زلفو دباران دڅاڅکو غلې نڅا
زما لالهانده او حيرانه موسکا
او ستا په سترګو کې پوښتنې ډيرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه ګرمي هغه داوړي غرمې

او هغه يخې څيلې

ما درپه ياد کړه

او خپل زړه ته دې ريښتياووايه !

چې زه دې اوس هم چيرې ياد يم که نه؟

زما تصويرونه څه شول؟

زما شعرونه دې دکوم قهر داور خوراک کړل؟

ستا دلاسونو عطر اوس هم ماله خوبه باسي

او ستا دتورو سترګو سپينې اوښکې

لا هم دانه دانه په ستوروکې ځليږي راته

ما درپه ياد کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



او خپل زړه ته دې رېښتیا وو ایه !

هغه شیبې شیبې اوږدې خبرې
او ستا خندا لکه د پانو او د باد شوخي
زما پر ژبه د ژوندون فلسفه
او ستا تر ژبې لاندې ورو یوه د ( هوکې ) وینا

ما درپه یاد کړه
او خپل زړه ته دې رېښتیا وو ایه !
چې له دې ټولو شیبو
او له خوږو خوږو یادونو څخه څومره لا په یاد درپاتې؟
زه درنه نه پوښتم چې:
زه دې په یاد یم که نه؟
خو دومره وو ایه چې
زما له یادونو سره څه کوې او س

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما د شعرونو پاڼې وسوزيدې

خو ستا په زړه کې زما يادونه لاژوندي پاتې دي.

ما درپه ياد کړه

او خپل زړه ته دې رينښتياووايه !

همداسې ده او که نه؟

١٣٩٠غبرګولی ١٨

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library



# باران باران غزل

تاتــه حیــرت وړي وو ، ټوله شــپه بــاران او زه
تــږي وو لاتــږي وو ، ټولــه شــپه بــاران او زه
ډيــرې کيســې وکړلــې ، ســتاوربل هوا ســره
مــوږه ورتــه غلــي وو ، ټولــه شــپه بــاران او زه
تاورتــه خنــدلي وو ، شــپه پــه عطــرو مســته وه
مــوږه يــې هېرکــړي وو ټولــه شــپه بــاران او زه
شــمعې شيشــې وليــدو ،تــه ورتــه خــوب وړې وې
هــو ، مــوږه راغلــي وو ، ټولــه شــپه بــاران او زه
پــانې اودباد ســرود ، جــام واوســتازلفې وې
مســت وو ، نخښــدلي وو ، ټولــه شــپه بــاران او زه
دومــره حســن و مينــه وه ، ربــه !درنــه ځارشــمه
چيــرې دې بيــولي وو ، ټولــه شــپه بــاران او زه

۱۳۹۳ - دثور ۲۸مه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سرچپه

زه د سرزورې ابۍ زوی یمه
مخ پورته لا مبم
او د تاریخ سیلاو پر سر اخلمه
ما نښکته مه لټوئ !

پر تاریخ کانګې کوم
وراسته ویاړونه مې له خولې غورځوم
هغه ویاړونه چې د سویو انسانانو له ځګیرویو ډک دي
عقله !
های ! ورکه عقله
نن دې لټون پیلوم !

(c) ketabton.com: The Digital Library



نورنو دخپلو ناخبره او ساده نيکونو
سپکاوی هم نه منم
چې ځلوربول يې بولي
څوک يې (زمری) نومو ي
څوک يې شاهين او څوک يې پړانګ بولي
ساده ( انسان ) دآدم زوی يمه زه
چې خامې غوښې نه خورم
ما دغنمو په ډوډۍ پسې جنت پريښی دی.

پروطن سرنه بايلم
سر دوطن ترسيوري ساتمه ،چې فکر وکړي
( سر ) دوهلو نه دی.
(سر ) دساتلو شی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هرڅوک چې دې وطن ته بد راګوري
ځناور نه یم چې یې ودا ړمه
سرساتم فکر کوم:
که دا وطن بنایسته کولای نه شم
هرڅوک به بد راګوري
زه له هرچا ستر ګې ایستلای نه شم.
دلته سرونه نور ریبدل نه غواړي
دلته سرونه ویښول او پوهول غواړي.

لیونی نه یمه چې جنګ ته ولاړ شم
په تار د زلفو کفن مه راګنډه
زخمي زخمي په تورو نه درځمه
دنا پوهۍ اواز مې درمه شه مینه !

د تاریخ خړ سیلاو ویاړونه یووړل

(c) ketabton.com: The Digital Library



نور نو د تورو او دزغرو افسانه ورکه شوه
د مذکر تاریخ زاړه بابونه
د کمپیوټر دخیټور موږک ترغاښ لاندې دي.

وطن د تن په وینو نه ساتمه
دې ته دوچویلي خولې په کار دي
نورنو تاریخ ته ددروا غولا پې نه وهمه
هرڅه ریښتیاوایم او :

( ژوند ) ژغورمه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سنګسار

شه ماتې دې وزرې
په لمن کې دې د برې
ستا له کاڼو لاندې خاندي
له ګناه نه بې خبرې
وې نازکې تر ګلابو
تا پرې وویشتې کمرې
له کمڅو یې وینې څاڅي
تنکۍ متې یې پرهرې
په د برو دې زخمي کړې
د جنت سپینې کوترې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دپېړۍ شرم !

اې د سوریې زویه !

چې پر کڅ پړمخې ویده یې !

دا دروا غ دي، چې دنړیوالو ضمیر دې وخوځاوه.

چې (ضمیر ) نه وي، څه شی به وخوځوې؟

دنړیوالو ( اخلاق ) او ( عاطفه ) له تاسره یوځای

په سمندر کې ډوب شول

دغه خوراو ورور،

اخلاق او عاطفه

نهنګانو وخوړل، خو ته یې پرې ښودې، چې کڅ ته راشې.

او خدای خبر کړې،

چې له اشرف المخلوقات څخه اخلاق او عاطفه د (پانګې) نهنګانو

وخوړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چا درته ویلي وو ؟

چې دلمر په رڼا پسې لمرلویده لوري ته ولا مبه !

لویدیځ ،

د دې نړۍ پرمخ تېرا یستونکی جنت

هو لویدیځ ،

داستخباراتو ،پانګې ، اټومبم او ښکېلاک هېواد !

پرتازمکه د اور تبۍ کړه

شیخانو

د سرو زرو په ټټۍ ګانو کې ځانونه تش کړل

او بیا یې د ( استنجا ) پراصولو بحث وکړ.

ته ورېی، نهر ، له جګړې ویرېدلی

بېرې ته پورته شوې.

او سهار ، ترلمرخاته وړاندې دې

د کڅ پرشګو موتې ډک کړل.

شیخان پلن پلن د سرو زرو پر ټټۍ ناست وو

(c) ketabton.com: The Digital Library



او لويديځوالو دتورو جامو ملايكو ته

پر دې دنيا د دوزخ جوړولو چلونه ورښوول.

د(پانګې ) ليونيو ، دښكېلاک او زبېښاک بادارانو

او دبشري حقونو دعويدارو ،

په قفس كې دانسان سوزولو له توند بوی څخه خوند اخيسته

ته پرشګو پروت وې

خو ستا په هېواد ، عراق او افغانستان كې

نورو ماشومانو هم دبېړيو ، يوه لار وركې سفر ته ملا تړله .

دا كيسه همداسې روانه ده.

اخلاق او عاطفه ، د( پانګې ) د نهنګ په نس كې په خوشيو اوړي.

او درواغجن وايي، چې تا

د نړۍ هغه ضمير، چې نشته ، وخوځاوه.

نړۍ دروغ وايي

او ستا له كوشنيو منګولو څخه شګې له څپو سره لوبې كوي.

د سپتمبر څلورمه ، دوه زره پينځلسم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سیګار

دا هغه عطر دي ،

چې چا راته کلونه پخوا

په ډېره مینه

دلومړي سوغات په نوم راکړل

هغه کلونه هرسهار

ماد ((سیګار)) عطر

د خپل زاړه کمیس پرګریوانه شیندل

هغه کلونه

د سیګار له خواږه وږم سره هره ورځ

(c) ketabton.com: The Digital Library



د چا دیدن ته تلمه

تیر کال چې عشق

د خپګانونو ، رواجونو او رسمونو بوربوکۍ کې ورک شو

چا یو ځل بیا د (( سیګار )) عطر راکړل

اوس هر سهار چې دغه عطر وهم

هماغه وږم راځي

او تیر یادونه لکه غشي زما له زړه نه تیر او بیر ووځي

اوس دغه عطر په اوله وږمه

دیو بیلتون غمجن خبر راکوي

او چې ((سیګار)) حس کړم

دخپل مات شوي زړګي غږ واورم

څو مره ظالمه زمانه ده خدایه !

عشق و مانا و ژوندون

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټول د سیګار ګل شو
یو داسې ګل ، چې
بس یو څو ورځې د زړه په وینو وپا ییده
یو داسې ګل چې عطر یې شته خو خپله
لکه یو داغ
لکه یو درد
لکه یو سور پرهر په زړه کې ورک دی
د ((سیګار )) ګل
په خپلو عطرو زړه ته اور اچوي
اوس چې ((سیګار )) حس کړم
د خپل مات شوي زړګي غږ واورم
څومره ظالمه زمانه ده خدایه !

۱۳۸۹ وږی ۲۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



# هره شپه

ګلغوټۍ وخانده ، چې شپه په ښکلا چنګ ووهي
دشونډو رنګ دې په تیارو باندې ګلرنګ ووهي
ستا تورې سترګې مې لاهم دتوروشپو مېلمنې
ستانېغ بانه مې هرسهار دزړه پرخنګ ووهي
باددې دزلفوورېمه راوړي ، هره شپه په غرور
راشي او وناځي ، حلقه مې په پالنګ ووهي
چې سترګې پټې کړم نو نازدې په خوب ووینمه
چې سترګې پرانیزم پاولې دې نوی شرنګ ووهي
شپې دې دغېږې عطر داسې په تیاره کې نغښتي
لکه پرتوربخمل چې څرخ لړ دلونګ ووهي
زنګون دې کېږده، لاخو ستورې ستا دحُسن شمارم
اعتبار نشته اوس به سپینه سپوږمۍ کړنګ ووهي

۱۳۹۳ اسد ۷

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لمبه ، لمبه نڅا

دا ستانظر تـه مـې وجـود پرلمبـه ونڅـاوه
دغيـرې عطـرو دې چـې عـود پرلمبـه ونڅـاوه

دلمبو تـس نـه و ، ستاحسـن تـه يـې کـړس وخنـدل
شـکن دزلفـو دې چـې دود پرلمبـه ونڅـاوه

سـتابت شـکنې ښـکلا اور پـه ګلسـتان کـړبـدل
لـه ډيـره شـوقه يـې نمـرود پرلمبـه ونڅـاوه

رڼـه خولـه پرانـکـو ، تـاو دحيـا پـر خـوړلن
دژونـد چينې داور نمـود پرلمبـه ونڅـاوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې سترګې وارومه تا او بیا هم تاوینمه
وجود د عشق مې ټول شهود پرلمبه ونخاوه

سکنې مابنام او ستا په سترګو کې تصویر دلمبو
عجیب سکوت ، عجیب سرود پرلمبه ونخاوه

دا سې باده راکړه چې اور ورسره ونوشمه
زما د تندې شور جمود پرلمبه ونخاوه

۱۰ حمل ۱۳۹۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شمعه او شیشه

ستورو تـه مـې رازوایمـه ، بـام سـره خبـرې کـړم
ستاسترګې چې نه وینم ،نو جام سره خبرې کړم

شپه ده او سپوږمۍ ده ، زه یوازې او یوازې یم
شمعه او شیشه لرم ، خیام سره خبرې کړم

دی راته ستا سترګې او ستا سترګې ملامتې کړي
زه چې مې دزړه له هرناکام سره خبرې کړم

هیڅ یوه شیبه یې ستا له یاده خالي نه وي ،چې
زه دهرې ورځې له انجام سره خبرې کړم

ستاد خوږو شونډو منطق پېژ ساتم په شونډو کې
زه پرځان باورلرم ، ارام سره خبرې کړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه خو په سیاست هم ستا پیکي او مخ عادت کړمه
سپین سهار ته ناست یم او مابنام سره خبرې کړم

دواړه مې دوینو تږي ، دواړه دي چاړه په لاس
یو خوا له پاچا ، بل خوا امام سره خبرې کړم

څوک به مغول تیغ نه دافغان ماشوم مړی ساتي ؟
نه شته خوشال نه شته، له بهرام سره خبرې کړم

زه لیونی ګڼه یم ، دی خبر په خیرو شر نه شو
لاهم داسې ولس ، لا داسې قام سره خبرې کړم

۱۳۹۱ وږی ، ۱۳

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شیبه

ستا دراتلو شیبه دې کله هم په زړه درګرځي ؟
چې ستا له هرګام سره زما دنفسونو موسیقي غږېده
ته به آرامه زما دمټو منځ کې پټه شولې
اوف ! زما دزړه درزهار
دتل په څېر مزاحم
هیڅ ځل و نه پوهېدم
چې ستا تټر کې هم یو زړه رپیږي
په دې خبر نه وم چې
ستا دمرغۍ په څېر کوچنی ، خو مهربانه زړګی
ورو ورو
که
تُند دربېده ؟

۱۳۹۲ خیله ۱۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شینشوبی

اې ! چې خندا ګاني دې د ټولې دنیا سولې دي
راشه ! لا په زړه کې مې یو څو هېنداري روغې دي
تاوشه ! د شینشوبې په شان شین کمیس پرې وځنډه
ډېر کلونه وشول، د چینې اوبه مو تورې دي
راشه په ورغوي د ویالني پانې وسرویه
زه ستړی ستومانه اود پاستي مړۍ سپورې دي
څه شوې ګلغوټۍ، د مینې ګل له باغه نه ښکارې
مخ نه پلو واخله ، د سپوږمۍ پلوشې پورې دي
ته مې سنځل ګل کې ، دوږمو ترمنځ پیدا کړلې
وي به ګلابي عطر، خو ستا جلوې څه نورې دي
څه به وي؟ خوبیا به دلبوال غزل کې تالولي
پېغلې سندرمارې، چې کتاب باندې را ټولې دي

۲۷لیندۍ ۱۳۹۴

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غږ دې

غږ دې
پېنځه کاله وروسته
لاهم
هماغسې خوږ، تود او مینه وړی دی.
خندا دې،
چې یو ورک درد یې ترشا پټ دی
لاهم دزړه په کنګرو کې نڅا کوي،
خندا دې
دیوې ورکې شهزادګۍ هغې اروا ته ورته ده،
چې د نیمه روښانه ماڼۍ په دالان کې روانه وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د سپین کمیس اوږده لمن ورپورې ښنیږي.

نن مې ستا خوږ غږ واوریده، خو پرې موړ نه شوم

خبرې مو لنډې وې

او زه تږی وم

لکه د کلونو خمار ته چې یو څاڅکی شراب وښنې

او نوره شیشه تشه وي، هېڅ نه ترې څاڅي.

نن مې په پرانیستو سترګو خوب لیده چې تا اورمه

اې !

ته څومره زما د روح ژورو ته ننوتلې یې ؟

زما د روح په نیمه ورانه ماڼۍ کې

یوه سپین لمنې شاهزادګۍ

لاهم د الان په دالان ګرځي او لمن ورپسې ښنندهِ بهیږي اوځي

خوله مې خوږه ده

ستا غږ مې وښنبه ، خو تنده مې لا پسې ډېره شوه

نه پوهیږم ، خدای ستا په وجود کې څه پټ کړي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې غږ دې

شعر پنځوي ،

درد هستوي،

روح لړزوي

ته !

زما په روح کې سپین لمنې شهزادګۍ لاهم د الان په دالان ګرځې

خدایزده څه لټوې؟

۱۳۹۴ عقرب ۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د باران په تمه

ورېمـــې !دیـــار دغیـــرېې عطـــر لـــه کـــوم لـــوري راوړې
چـــې جـــل وهلـــي روح تـــه داســـې دژونـــد ســـیوري راوړې

خـــوب مـــې لیـــده چـــې دیـــاقوتو زریـــن تـــاج دې پـــر ســـر
ســـپینو لاســـو کـــې داســـې زړه ،چـــې لاهـــم ښـــوري ،راوړې

زه یـــم ګـــونګی ولاړ دخـــدای پـــه نـــوراني حضـــور کـــې
ژبـــې تـــه خـــومره خـــوږه راشـــې دعشـــق تـــوري راوړې

لاهـــم دژونـــد پـــه دې تیـــاره لاریـــم یـــوازې روان
راشـــې ســـپوږمۍ ســـره پېیلـــي یـــو خـــو ســـتوري راوړې

داللمـــه للمـــه زړه پـــه تمـــه دی چـــې ګونـــدې تـــه بـــه
داســـې شـــیبې چـــې لپـــه لپـــه بـــاران اوري راوړې

۳ غبرګولی ۱۳۹۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غزلګی

چــې خپــه کیــږي ښــکلي ، ښــه پــو هیږم
څنګــه پخــلا شــي ؟ پــه دې نــه پــو هیږم
ظــاهره څــو مره خــوږې ښــکاري شــونډې
څــو مره ترخـــه دي پکـــې ، زه پـــو هیږم
څه مې پو ښتې چې مې زړګی څنګه دی؟
دی خـــو لـــه تا ســـره ،زه څـــه پـــو هیږم
ســـترګې دې څـــه وايـــي پـــه هـــره ادا ؟
لـــږ رانـــږدې شـــه چـــې پـــرې و پـــو هیږم
اخـر بـه سـتا تصـویر زخمـي شـي پـه کـې
داســې چـــې تـــه مـــاتوې زړه ، پـــو هیږم

دمني ۱۳ مه ۱۳۹۰

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تودوخه

غم مې،

لکه ماښام کې دوا بو پر مخ

دیوې یو ازې پاتې شوې هیلۍ سپین سیوری

چې له څپو سره د تللې رڼا

اوراروانې تیارې رنګ ته ځیر وي

هغه چې خپل یو ازیتوب ته زانګي

د مازیګر په وینو رنګ اوبو کې

ډنډ د درنې او سهمناکې شپې بستر کې پروت وي

او هلته لرې داوبو پر غاړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوچو ونو لغړ سیوري

دهیلۍ یوازیتوب ته ګوري

غم مې ،

دغه مسا پر موسکا ته ورته دی چې

دشپې پر سپینه واوره پلونو دلیوه ته ځیر وي

خو په دې نه پوهیږي

چې لاره کومه خواده ؟

چېرته له وریځو راوتلې نیمایي سپوږمۍ ته

تور سیوري منډې وهي

او مسا پرته دلیوانو پلونه لاورلنډ شي

یوه موسکا په داسې وخت کې هم دژوند تمه وي

غم مې،

یو څاڅکی اوردی

دوروستۍ اوښکې دتودوخې په څېر

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې پر کنګل باندې یې وس نه رسي

غم مې ،

دژمې په دې لویه شپه کې دومره مست دی

چې رانه ستا دلاس تودوخه غواړي.

د۱۳۹۱لمریز دخیلې اتمه شپه

کرغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# فلسفه

په روح کې دې خدای نه ورکوي چانه خپل جانان
دخپل ځان په لټون پسې ، چې سترى وي خپل ځان
د شـونډو فلسفه دې مالوستلې ده په شـونډو
دوينو رنګ چې مينځمه داوښکو په توپـان
اې ! چېرته يې ؟ هغه ورځې مې ډيرې رايادېږي
تاوده به پر يوبل شو ، چې لانده به کړو باران
دښار زړې کوڅې وې ،پسرلى و او مزل و
چې ته وې او چې زه وم ، عاشقان وو عارفان
راځه چې دې په سترګو کې هغه کيسې پيدا کړم
چې ځنګه پخلا کېږي سره دوه خپه ياران
راوړاندې شه او بېرته مې په خپل زړه کې پيدا کړه
زه تللى چېرې نه يم ، زه همدلته يم نهان

ميزان ۱۳۹۲۲۷

(c) ketabton.com: The Digital Library



# قیامت

دلته ، هلته اوازه ده
چې زړه نړۍ به مړه شي
بس همدا دهستۍ پای دی
اوازه د قیامت ده
چې بیړۍ د دې نړۍ به
د تیارو په سمندر کې
ماته ، ماته شي راړنګه ،
خلک وايي ، هلته دلته
چې د ځمکې دا بې تندی به مات شي
اوازه د قیامت ده
ځینې خاندي ، څوک ویریږي
خدای پوهیږي ، خدای خبر دی
مور لاهسې خپل ماشوم په تندي ښکل کړي
بوډا لاهم په لکړه ، هدیرې نه په ښنګ تېرشي

(c) ketabton.com: The Digital Library



شپانه خوله پر چینه کېښوه

اوږده تنده یې سړه کړه

چا دیار په خوږو شونډو

دزړګي تلوسه مړه کړه

هلته دلته ویل کیږي

چې څوورځې ددنیا پای ته دي پاتې

اوازه دقیامت ده

خدای پوهیږي ، خدای خبردی

موږه وږي ، موږه تږي

دخیرات ډوډۍ ته ناست یو

ډک سیندونه ، لوی برجونه

تش منګي او تش نسونه

دبابا توره تیره ده

دنیکه شمله موهسکه

لادوینو ډنډ کې لامبو

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې په خپلو دواړو لاسو

يې له خپلو زړونو باسو

خلک وايي هلته دلته

دهستۍ دننداري پای رانږدې دی

اوازه دقيامت ده

خدای پوهيږي ، خدای خبردی

که قيامت شي ، که نړۍ شي ړنګه بنګه

ګوندې زموږ ه د شرمونو

دازړه کيسه شي ختمه

دخيرات کنډول که مات شي

داحتياج دوزخ که ړنګ شي

خدايه ! ژر دې قيامت شي

رانه خلاص چې دژوند ننګ شي .

۲۰۱۲/۱۲/۳

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شپه او ګلغوټۍ

ګلغوټۍ !

شپه ډیره اوږده ده ، دیلدا شپه ده

داورلمبه مړاوې تودوخه لري ، سوز نه لري

لوګی کړی کړی پرخیال

داستاد زلفو څانګې نه شي ایستی .

مالیوني ته وایه

دخیلې شپه ګوره او خیال دګلغوټۍ وګوره

ګلغوتۍ !

(c) ketabton.com: The Digital Library



چیرې یې چې مرم د رپسي ؟
ما د غمونو پنډ په شا راوړی
ما د مرګونو ، سیاستونو ،
وړېیو بربنډو ارواوو شورماشور
ایله ترتاراوړی
ژوند مې لوګی کړ ، خو دا ستا پرزلفونا ست ګرد ته هم ونه رسېد.

ګلغوټۍ !
مینه په ( بازار ) کې نه شته
مینه خو ستا د رغوي منځ کې د تود وخې خوند و
چې یې خو ژمي زما لاسونو ته ( مانا ) ببنبله.

ګلغوټۍ !
چېرته ولاړشم
که یوه ورځ له هغو ورځو څخه بیا ووینم

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې به د واورو سپينې سپينې بتې
ستا پرپيکي يوه يوه کيناسته
تابه تودوخه ، څه موسکا او د سنځلو عطر
زما پر اروا وشيندل.

ګلغوټۍ !
ستوري هم مانا نه لري
لمر دومره سپک دی
لکه زما له سوری جورا بې نه وتلې پونده
له کتابونو نه مې کرکه کيږي.
چې ته يې ونه لولې ،
هغو شعرونو نه مې کرکه کيږي .

ګلغوټۍ !
سوزمه دژوند له اوره

(c) ketabton.com: The Digital Library



خولاخپې خپې روان یمه دعشق له شوره

څومره ساده خلک دي ،

چې خبرنه دي ستا ددومره ډیر ښایست له زوره

په دغې توري ،

دې اوردې

او دې تیارې یلدا کې

څوک شته ، چې غږمې واوري؟

ګلغوټۍ !

مرم درپسې !

د۱۳۹۳ یلدا

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ګلغوټۍ ته اووم سرود

مازیګر تېرو ، چې ځنګل خلاص شو
اوزه د ګڼو ـ ګورو ونو له تیارې ووتم
اس مې ستومانه و او زه تږی وم
ترمخ مې شنې ورشو نه پورته د چنچڼو خېل شو
لویدیځ افق د لمر وروستیو وړانګو سوروا ړاوه
لرې ، د شنه چمن ترغاړې و دانې ښکاره شوه
او اس پرزمکه پښه وسرویله
دلارې څنډې ته په ماته تېږه
داسې لیک وو:
(( دلته لاژوند ازمو ییل شوی نه دی
د مسا پرو د مه ځای نه شته !))

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماښام تیاره وه چې، راورسېدم
څه پرتمین ماښام و !
هوا په غېږ د سنځل ګل کې خوله
د ډیوې تتې رڼا څرک له پنجرې وهلی
چوپتیا خوره وه، مایوازې خپله ساه اورېده
او د نرګسو سترګې نه رپېدې
عشقه پېچانو د کړکۍ خواته و غوږ نیولی
د ماښام ستوري په افق کې سترګکونه وهل

++++++

اس مې ستومانه دی او زه تږی یم
خوږ بر لیک را یاد شو:
(( دلته لاژوند ازمو یېل شوی نه دی
د مسا پرو د مه ځای نه شته !))
نو...
ولې را وګرځېدم ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



چا ځانته وبللم؟

دروازه خلاصه وه، که ما مې په ستومانه لاسو ووهله ؟

هرڅه مې هېردي.

یوازې ستا ښکلا مې نه ده هېره

چې مخامخ په دروازه کې لکه سپین سوسن راهسکه شولې

زرکاله مخکې مې لیدلې وې، اشناوې راته

زرکاله مخکې دې لاپېژندلم.

ـ سلام...

ـ راځه دننه راشه !

ـ خو ( ډبرلیک...؟ )

ـ نه نه ، پردغه لاره مسافر نه راځي

هیڅ ته ځای دد مې نه شته دلته.

دباد پاسته لاس دې ویښتو کې ګوتې ووهلې

پسرلی مست شو او ستا زلفو سره ونڅېده

ـ اس ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



- پرې یې ږده ، مه یې تړه !
دلته اس نه ورکیږي
پریږده چې شنه ورشو کې دمه وکړي
او له چینې څخه اوبه وڅښي.
چې ور دې وتاړه هوا راغله
ډیوه په ملا کړه وره شوه، رڼا ولړزیده
مایې سلام واخیست او کیناستلم.
لاهم حیران وم، ته مې چېرته؟ څه وخت ؟
نه نه هېڅ مې لیدلې نه وې
زه یو ستومانه مساپر وم او بس.

ـ هن واخله !
ستا لاس مې وپېژانده،
خو په دې نه پوهېدم
چې دادچا لاس دی ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



تا ویل:

قهوه مې بې شیدو راوړه، همداسې ترخه

ماویل چې رنګ یې ستا دسترګو رنګ وي.

ـ هو ! زما دسترګو رنګ ستا ډېرخوښیږي ؟

مګر ته څوک یې ؟

دقهوې عطرو راپه خود کړمه ، پیاله تودده وه.

اوه خدایه !

پرکوشني مېز د نرګسو ګېډۍ هم پېژنم !

خو هغه زرکاله پخوا ستا له تصویرسره نرګس ایښې وو.

ستاغږ مې بیا واوریده:

ـ نن هوا ښکلې وه، ستومانه به یې ؟

ـ هو ! ستومانه ډېر ستومانه !

خو راته ووایه چې ته څوک یې ؟

او ستا خندا

څپې څپې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دتوروزلفو له نښا سره

د بوې وخښبله.

زه ؟

زه خو هماغه یم، چې ومه کنه ؟

ـ که ته یو ازې یې نو زه به شپه بهر تېره کړم.

سهار به وخته خپله لار ونیسم...

خو ستا موسکا دحیرانتیا ښپې کې ډوبه شوله.

ودې ویل:

دلته لا ژوند ازمویل شوی نه دی.

دمساپرودمه ځای نه شته.

او زه دزلفو یو بالښت لرم، همدلته یې ږدم

هغه بهر ته درایستلای نه شم.

ـ هو ته ریښتیا وایې

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو زه به دلته ، هو همدلته سر پرې ولګوم.

مګر ته څه پوهېږې؟

که زما اوښکې ستا دزلفو پربالښت وڅاڅي ؟

تاوویل:

وګوره !

چې زلفې مې لا اوس لمدې دي.

او زه دا ستا دلمدوزلفوعطرو بیا راویښ کړم.

ما ویل:

خو زه

بس ، دیوې شپې مسا پریم دلته.

ـ نه زر کاله وړاندې مو وعده بله وه.

تا ویل: چې پاتې ژوند به ټوله بس همدغه شپه وي.

هاغه دې هېر شول، چې پخپله دې پر دغه کتیبه ولیکل:

(( دلته لاژوند ازمویل شوی نه دی.

دمسا پرودمه ځای نه شته. ))

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما ویل: هو ! سمه ده.

خو زه دې نه پېژنم

او خدایزده چېرته ځمه ؟

اس مې پښنه ټکوي.

ډیوه لابادته ناخې.

نوټ:

دا شعر د لیکلو تاریخ نه لري

یوازې زما تر یو ځلو پښتمې زوکالیزې پینځلس ورځې کشر دی.

د کابل یوه ستربڼ ته نږدې دغره په لمن کې راشین شوی دی

ګلغوټۍ پرې خبره ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ګلغوټۍ

اې خلکو !

ځاځګانې مو له اوبو

غوا ګانې مو له شیدو

او زړونه مو له پېرزو ډک اوسه !

مېچنې مو تل ګرځنده

جوالونه مو په غنمو درانه

او دباغو هوا مو

د سرو منو په وږمو ښکلې اوسه

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ويالو کې مو د ګلبوټو څنې خداى مه ريژوه

او شنې غونډۍ مو ، خداى د مستو شپنو

له ياکوربان او يره ځاره تشې مکړه کله

خلکو !

اې د مينې خلکو !

د سترخوان مو له ډوډۍ

غړکې مو له شړومبو

او بډه مو له پيازه

کله تش مه لره

او په باغچو کې مو د ګل خندا تلپاتې اوسه

ما ستاسو منځ کې

يوه د ګلو ځانګه

يوه د ګلو غوټۍ

همدا سې ناوې پر پالنګ پريښې ده

زه...

(c) ketabton.com: The Digital Library



هو ! زه ورځمه چې د خدای له ملایکو ورته نور راوړم
او له کوثره یو جام ډک د رڼا
د خدای له رحمه یوه لپه شبنم
او له جنته د غنمو طلایي ګاڼې
ما د هغې د نیا سفر ته د اسې ملا تړلې
او ستا سو چم کې ،
ـ چې د مستو خندا ګانو له سندرو دې خدای تش نلري ـ
زما ((ګلغوټۍ ))د ناز په خوږ بستر کې خوب وړې ده .

۱۳۹۰سرطان۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ګُلبیتونه

د سرو ګلو نڅا وه په څپو کې ګلغوټۍ
غوټۍ غوټۍ غوټۍ وه په اوبو کې ګلغوټۍ
سهار یې پرانیستله چې تنۍ د ګریوانه
همدا سې غځېدله مو سېدو کې ګلغوټۍ
په سره کمیس کې سپینه تاویده راتاویده
لانه وه غوړیدلې په لمبو کې ګلغوټۍ
جلوه وه د جنت زمو ږ په زمکه ګرځېدله
سرکشه ، هسکه غاړه پر ښتو کې ګلغوټۍ
اخیسته زړه او ذهن ورنه د بره خوشبویي
نغاړلې د خدای لاس وه په وږمو کې ګلغوټۍ
هغه دې په یادیږي؟ چې خپل پټ نوم دې راوښود
د عطرو ، د رنګونو په پردو کې ګلغوټۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پوهه لانیمګړې ده !

کتابونه

کتابونه

زرخبرې سل بابونه

دنیا څو ځانګه اوږده ده

زمکه څو ګزه ده پلنه ؟

دمارانو پښې څو دي

او چونګښې داوبو دي

که دزمکې دسرو دي ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړه مې تور دی له دې دومره ډېرو توریو
خوا مې ګرځي له دې دومره ډېره شمېره
پوهه تږوله ده نیمګړې
کتابونه هم ګونګي دي
قلمونه بېچاره دي
یوهم دانه شي ویلای
چې ته ( څومره ) ښایسته یې ؟

۱۳۹۳ لیندۍ دوهمه
تهران

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کمپاین

دلته ، چې غم د ډوډۍ
یا خالي ، پوچې اند ېښنې د سیاست
او خبرونه د مرګ
زموږ د ژوند کاغذي ګل رازمولي
په دې عجیب وطن کې
هیڅ څوک په دې غمیزه نه پوهیږي
چې څو مره لو یه تشه
او څه بد رنګه نشت دی
که هیڅ څوک نه شي پیدا
چې بل ته دا وو ایي:
((تا سره مینه لرم ! ) )

(c) ketabton.com: The Digital Library



# باران ، کورمه ، کوچی

هوا لنده ده،
دځنګله له پاڼو څاڅکي څاځي
او دزلمي کوچي په زړه کې اند ښښنې بهيږي
لږ مزل نور پاتې دی،
ژوره (کورمه )
دخورو لړو ترمنځ ښکاريږي.
کوچی په (لښته) پسې ډېر خپه دی.

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



لښته همزولو سره ناسته ده چمبه غړوي
په زړه یې خړې لړې غم وروي
لالا ! ټوپک اوګردنۍ دې ورک شه
چې د تربرو بدي دې کورته راوړه
دلښتې مېنه په بدۍ سپېره شوه
(بدۍ) کې کورمې ته را ورکه لښته
اوس د (کوچي) جانان بېلتون ته ژاړي.

***

ماښام راخور شو، لاکوچی روان دی
ژوره کورمه لویه
دلته او هلته ځراغونه بل دي.
کوچی حیران دی، چې شپه چېرته وکړي؟
لښته به چېرته وي او څه به کوي؟
په بدۍ ورک پلار به یې چېرې وي پناه اخیستې.
کوچی روان دی له پوښتنو سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوچی پرسترګو اوږو وړي دا ند ېښنو پنډونه.

***

لښته چمبه غږوي، غاړې باسي

نن د نکریزو شپه ده

یوه خورلڼه له دې کلي نه ځي

لښته سندرې وایي:

((له تورو غرونو پناه یاره

ستا به په یاد یم که به هېره یم مینه

کډې مې تورو غروته ولاړې

راپسې ژاړي، ستا د کلي چنارونه ... ))

لښته لګیا ده او سندرې وایي،

کوچی حیران چې شپه به چېرته کوي؟

هلته نکریزو کې ډېوې بلې دي

دلښتې رغوی سپین دی

دلښتې رغوی دجانان دلاس تودوخه غواړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوچي وطن ته لار په ننبه کړله:

که نیمه شپه لښته راوتښوي

تر یوې ونې لاندې ، د یوې ګارې شاته

داسې ځای شته چې دوه مینو ته پناه ورکړي؟

خو ، خدایزده لښته به د کورمې په کوم کلي کې وي؟

چا نه پوښتنه وکړي

دیوې ورکې مساپرې پېغلې؟

شپه را روانه ده، باران اوري

دکلي منځ کې ځراغونه سترګکونه وهي.

او مساپر ، چېرته لهلرې د واده زوږ اوري.

مساپر مسک شو ، لږ بېې دمه وشوه :

((د ولس واده دی، مساپرو ته ډوډۍ ورکوي،

شپه به جومات ته یوسم.))

په لوی انګړ کې رڼاګانې ښوري

دنغري دود او د ښځمنو اواز

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوچۍ ګامونه تېز کړل.
اوس د چمبې اواز له ورایه اوري.
کوچۍ خوله شو، په باران کې خوله
پر زړه یې تېره ببره څړیکه شوله.
لړ سانیولی شو، او ولړزېده.
دلښتې خوږ اواز یې وپېژانده :
(( نرۍ باران دی پاس پرلوړو یې ورو ینه
ژوري کو رمې ته نصیب راوړي یمه
جانانه !لاس راکړه چې دواړه سره ځونه ،
وه جانانه !لاس راکړه چې دواړه سره ځونه... ))

۱۳۹۴ سرطان لسمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ملت مې

ملت مې !
ټول عمر نېکمرغۍ ته په تمه
هردم شهيد
سرګردانه !
يوازينۍ ګناه يې داده
چې ګومان کوي؛ نيکمرغي راځي
دومره څوک نشته چې يې وپوهوي:
نېکمرغي نه راځي ،
راوستل کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# هیواد مې

هیوادمې
لکه دسمندر شپه
ښکلی ، ویرونکی
توپاني
او ناڅرګنده

۱۳۹۳ جدي اوومه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# له تانه بېرته تاته !

له غمه ستړی یمه
ستړی یمه ستا له غمه
له درده مرمه ، زخم تا راکړی
وګرځم وګرځم همدلته راشم
له غم او درده بېرته تاته ژاړم
زما دژوند دغه غمجنه کړۍ
له تارا پیل شي راوڅرخي ،
راوامې خلي
اوبېرته مې تر تاراوړي
وو ایه ستاله لاسه چاته ګریوان څیرې کړمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مجبور یم تا ته ، همدا تاته ګریوان څیرې کړمه

***

د پسرلي پر یوه ښکلي سهار

ستا مهربانه لاسو وکړلم

یو څاڅکي اوښکې دې اوبه راکړې

او

د زلفو وږم ته دې هسک شوم ورته ونڅېدم

یوه غرمه ستا اننګو ته لاتو د شوی نه وم

چې ته غوسه شوې او زما خزان وهلې پاڼه باد یووړه

یوې سرې سیلۍ پر سر واخیستم

زه رالویدم ، پریوتم

پر یو خوشبویه ، پر یوه ښکلي پالنګ

ستا پر پېکي باندې راپریوتمه

اوس دې نو خوښه

چې مې مروړې ، که مې کرښې لولې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



***

خو زه ستومانه ، زه زخمي
مات شوی
آس مې پر لاره پاتې شوی
بې وطنه يمه ، تږی يمه
ستا پر لمن يو ځلې سر ږدمه او ستوري شمارم
خوب کې به تاووينم
چې درته وژاړمه ، وپوښتمه
له تانه تللی ، تاشړلی ومه
له تا خپه وم ، تا رټلی ومه
اوس نو ته غوږ شه چې کيسه دې ستومانه سفر تاته وکړم.

***

زما جېلوانې !
ستا د سترګو سپاهيانې مې پر سر ولاړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه ستا له جیله تښتیدلی ازلي ګناهکار

له ډیرو منډو

پټ پټانو وروسته

ستاتردرشله راغلم ،

چې تاته تیره کړم کیسه دیوه ستړي بندي

ستا له زنځیره ستا له بنده همدا تا ته ژاړم

له غمه ستړی یمه ،

ستړی یمه ستا له غمه

له درده مرمه ، زخم تا راکړی

وګرځم

وګرځمه بیا راشم

له تانه بیرته تاته وژاړمه

۱۳۹۰سلواغه ۲۳

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مـرګه

که څوک زما له زړه نه وپوښتي چې،
دغه چا هېرول ، څومره سخت دي؟
چې دې ټول عمر دغې پښو ته
دعشق ګلونه ایښي.
نو به دا زړه ورته دګل په څېره وغوړېږي
او په خندا به ورته وو ایي:
((ته څه خبر يې؟))

که څوک زما له زړه نه وپوښتي چې،

(c) ketabton.com: The Digital Library



دهغو سترګو قهر ځنګه زغمې
چې تا یې تل رڼو چینو ته
خپل خوبونه ویل؟
نو بهدا زړه ورته له اوښکو نه امیل جوړ کړي
(( ته په دې څه پوهیږې؟ ))

که څوک زما له زړه نه وپوښتي چې ،
دهغو شونډو ترخه ځنګه څښې
چې تا به تل دخپلو شونډو په باران پریوللې ؟
نو بهدا زړه ورته دوینو څاڅکي څاڅکي ګلاب وغوړوي
(( چې داسې هم کیدای شي ! ))

که څوک زما له زړه نه وپوښتي چې ،
له نامرادې
له ناکامې مینې وروسته ژوند په څه مانا دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو دا زخمي شاعر به

ورته په غوږ کې ورو، ورو

د ځنکدن سندره وغږوي

دا سې سندره چې له مينې

له بيلتون

او هېرولو نه به

د مرګ د سپينې اوښې

يو برګ اندې د لمر لويدو په لوري وخوځوي

د لمر لويدو خواته په دښته کې

ها لرې ليکه

د عشق د ماتې په نامه د مرګ د سپينې اوښې ورک پلونه دي.

۲۲ اکتوبر ۲۰۱۱ ،

وارسا - پولند

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مـزل

په دغه دښته کې چې زه یم روان
هومره سپېره لکه ژوند
همدومره ستړې لاره
نه یو شین بوټی
نه دونې سیوری
پر لاره پلونه دوړو کې سمساری
یا یوه کربښه دمار
یو ازې سیوری مې ملګری دی لا
او که ماښام سپوږمۍ راونه خېژي
زه به بې سیوري ، بې ملګري چېرته دمه کوم؟

۱۷ جون ۲۰۱۱
سفر

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د اوبو ژرنده

اوبه بهيږي

له ناوې نه ، شرهار کوي

او ژرنده څرخي

غنم په زړه چوي

دګرمو اوړو بوی راځي

ژرنده له ګرده ډکه

زه هم ستومانه

لکه ژرنده پرخپل ځان راڅرخم

سر مې سپېره دی

سر مې سپين دی

لکه سپينې وړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې پوهیږم ، چې ګردجن سر مې بیا نه توریږي
ددې ناوې اوبه مې زړه سړوي
خو زما لامده وېښتان لا

سپین سپېره دي

لکه وړې
لکه دوریځو یوه سپینه غوټه
او دژوند ژرنده لا راڅرخي
صبر نه پيژني
غنم خلاص شوي
ژرنده ګړی چېرته خوب وړی دی؟

۱۷ جون ۲۰۱۱
سفر

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سیاست

یو ماشوم پلار څخه پوښتنه کوي
چې ستوري څوداني دي؟
پلار ورته وايي:
لکه ستا او ستا دخور ویښتان
ماشوم په خپل سر باندې لاس تیروي
او د کوچنۍ خور په ویښتانو پسې مخ اړوي
ماشوم د ستورو په شمېر فکر کوي
د پلار د شونډو له موسکا څخه
سیاست راڅاڅي.

۱۷ جون ۲۰۱۱
سفر

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بهانه

بېګاه په خوب کې ستا له سترګو څخه وشرمېدم
ستا سترګې لا هم زما له مینې ډکې
خو زه ویده یم
او ستا سترګو ته په خوب کې ګورم
بېګاه په خوب کې ستا د سترګو پېغور وسېزلم:
چې څوک مین وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر ارامه بستر نه پریوځي

ښکه یې ووایم ،چې ویې منې؟

زه هرمابښام ددې لپاره

د ګلونو پر بستر څملم

چې ګوندې ستا سترګې په خوب ووینم .

۱۷ جون ۲۰۱۱

سفر

(c) ketabton.com: The Digital Library



# یوازیتوب

په الوتکه کې د خپل یوازیتوب په اړه فکر کوې
چې ستا تر څنګه ناسته ښکلې پرده،
په خواږه خوب ویده شي
او سریې ورو ورو ستا پر ولي د روند شي
ته به ستومانه يې او خوب به درځي
خو ګاونډۍ را ویښولی نه شې
موسکا پر شونډو ځانته داډ ورکوې :
یوازیتوب کله په خوب تېرېږي ؟
یوازیتوب کله په خوب هېرېږي ؟

۱۷ جون ۲۰۱۱

سفر

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مورته سرود

موري روان يمه ،دعا غواړمه

ته نه يې ، چاته ستر ګې واړومه

موري لاس راکړه، که نه غورځمه زه

اوس ، چې پخپلو پښو ګرځمه زه

موري للو غواړم ، زنګون غواړمه

د سرګردانه روح سکون غواړمه

خوب مې ليده چې ستا پښې ورکې وې

موري ! له باغه مو منې ورکې وې

څو پا ستي ايښي او يو څو دستکې

په سيخ مې سوې وې وړې پاپکې

ته سرګردانه وې ستوماني موري

له تناره سره حيراني موري

(c) ketabton.com: The Digital Library



موري رنځوره وي په خوب مې ليدې
زه چيرې بوخت وم ته مې نه يادېدې
نيمه شپه راغلم اسويلي مې واوريد
زوی ته مې خير کړې ! ستا ځګيروی مې واوريد
موري شاعر ( کاروان ) دې يادراوړی
درمند دعطرو ورنه بادراوړی
موري ستومانه يم ، خسته يم موري
موري ويرېږمه، خپه يم موري
چاراته ويل ، چې نور دمينې نه يې
له زړه لويدلې ، ورک له سترګو بنه يې
موري داغم به اوس په چا ژاړمه
ته نه يې چاته سترګې واړومه

۱۳۹۲ - ثور - ۱۸
کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ستا ترکلیزې یوه اونۍ وروسته

نن شپه مې رګ رګ کې یو اور غځیږي
لکه ستا سترګو ته چې نیغ درګورم
د سندرغاړې خوږ نظر زما په سترګو خښ دی
د نیم تیاره او نیم رڼا ځراغ تر چتر لاندې
د یو غزل له ترنم سره هوا ته وځم
د هارمونیې له ستوني ستا د نیم کښو نظر ښکلا اورمه
د ګیتار تار مې لکه ستا موسکا

دزړه پر کوڅه لار تیروي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او پر تبله چې ګوتې ناځي ، لکه ته چې خاندې
پر پياله شنه لمبه راتاو شي لکه ستا د کميس بله جلوه
بهر باران دی ، برسات چيغې وهي
خدايزه چې دومره لرې
دا ستا د زلفو وږم څنګه راغی ؟
باد او باران
غزل او اور د پيالې
ټول سربداله ناڅي
دا ستا د عطرو نشه چيرې ده ،
چې ومرم پسې ؟

۱۷- حمل ، هندوستان

(c) ketabton.com: The Digital Library



نن ( د۱۳۹۲ کال دعقرب پینځمه ) دغزني په اندړوکې پر ورا چاودنه وشوه او ترشلو پورې ښځې ، ماشومان او ورابانې یې په وینو اوخاورو ولړل.

# هرڅه دواک لپاره !

له سورۍ د اریا سره یو سور لاس په نکریزو پروت دی

او

د وړوکي پر اوږه د پاولي سیوری ښوري

خړ ،

په خاورو پروت ،دوینو وچ ډنډوکی

له کلي ورا وه راوتلې ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو درووند آواز ،

يوه تياره

اونورهېڅ...

ديوه ښار

نه

دڅو ښارونو ، په محل کې لا يوڅو ښاغلي

دسياست کرښې کاږي.

خبريال بيړه لري...

سم خبر کوم دی ؟

وايه څومره مړه دي ؟

( مرګ ) دسګرټو په لوګيو کې په فکر بوخت دی

(واک ) څومره خوږ دی ،

په غوږونو يې غږ خوږ لګيږي....

(c) ketabton.com: The Digital Library



# یاد

ما شو متوب نه هیرېږي ،
ستا سو به یادې وي هغه شیبې هم
چې مور به ورو ورو په خوا ږه اواز کې
دالاهو او سندریزو للو ګانو پرځپو لاهو کړئ
دخوب او وینبې په وروستۍ پوله کې
دمور غږ دا سې راته
لکه له غره نه چې سندره وي دباد پر اوږو
یا دسپوږمۍ چو پټیا ته پټه دغونچې خندا
ووایاست ! چاته دا شیبه یادیږي ؟
ما شو متوب نه هیرېږي.

۵ عقرب ۱۳۹۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نوروز ته سرود

لــه بــامي بلخــه راپاڅــه ، دنــوروز د ســهارباده
پســرلی دعشــق راخــور کــړه لــه زاړه ام الــبلاده
دهېلمند مسته څپــه شــه پــه لرغــوني سيســتان واوړه
دکابـل ارغــوان ښــکل کــړه ، دبـاګرام هــواکړه ښـاده

پرســرلوړي هــري واوړه ، چـــې ګذرپـــه اصــفهان کـــړې
بخاراتــه وږمــه يوســه ،چــې پــرواز پــر بدخشــان کــړې
دســوما پـــه بـــاده مســـته !د( ســـدې ) دجشـــن يـــاده
لـــه بـــامي بلخـــه راپاڅـــه ، دنـــوروز دســـهار بـــاده

لــه ( ګنجــه ) ترا باســينه ، لــه ګنګــا تــر ســمرقنده
لــه قــونيې ترفــراه روده ، لــه لاهــوره ترخجنــده
دزلمـــو دي اتڼونـــه ، دښايســـته پېغلـــو نڅـــا ده
لــه بــامي بلخــه راپاڅــه ، دنــوروز دســهارباده

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوی کال دی ، نوی ژوند دی دا قبال ستوری بلند دی
ددانې نوی پیوند دی ، ددهقان خاطر خرسند دی
ترپښو لاندې سبزه ده ، پاس دعشق نوې هواده
له بامي بلخه راپاڅه ، دنوروز دسهار باده

سمنک دې شنه قدم ته ، هفت مېوه دسپرلي دم ته
قزاقي سمند دې زین کړه ، راشه بیا قرغزي چم ته
چې بیا یو کړو سره زړونه ، لو یه سوله کړه بنیاده
له بامي بلخه راپاڅه دنوروز دسهار باده !

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زما د خوبونو غلې ته!

هر څو ار لسم،

چې سپوږمۍ پېغله شي

او

پلوشې يې ورو ورو ومينځې

زما د زړګي تږې ،

جل وهلې کړکۍ

شپه چې چوپتيا خوره شي

او دهندارو حافظه وينبه شي

ته هم راو ځليږې

زما له ستومانه سترګو خوب يوسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګرانې !

که د سپوږمۍ له رڼا ګانو څخه درمند جوړ کړم

او ستا پښو ته یې دانه دانه دروشیندمه

که د سهار له چینې څاڅکي څاڅکي ستوري ټول کړم

چې ستا دغاړې هار شي

تا ته سپوږمۍ باندې قسم درکوم

وو ایه !

بیرته به مې سترګو ته خوبونه راوړې؟

۱۳۹۰ سرطان ۲۵

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مننه!

دترافیک کاکا دلاس تودوخه
لکه د پلار په څېر وه
چې یې ماشومه واټ نه پورې ایسته
له واټ نه پورې یې په موسکو شونډو منډې سره
د کتابو کڅوړه ونڅیده
او
د سپین ټیکري پیڅکه یې د اسې باد ته وخوځیده
ما وېل
مننه کوي

۱۳۹۰ سرطان ۲۵

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خبرونه

سپې

ستومانه د دیوال سیوري ته وغځېده

نن څو چاودنې

او ډېرې غزې وشوې

ګڼ خلک ووژل شول

خو ده

هیڅ‌ونه .

(c) ketabton.com: The Digital Library



ان لا غپلي نه و
دخدای مخلوق یې ځورولی نه و ،
سپي دیواله ته ډډه ووهله
په خبرونو کې چا ونه ویل
چې وسله والو څخه زیات
دسپي وجدان ارام دی.
هره ورځ مور نه دا سپې ډير
دخبرو سرټکي هېر پاتې وي.

۱۳۹۰ سرطان ۲۵

(c) ketabton.com: The Digital Library



# هاغې تللې ته سرود

يـــوه ورځ وه ،مـــورېه دواړه پـــه ســـفر بانـــدې روان شـــو
زه او تـــه غـــــاړه پـــه غـــاړه پـــه ســـفر بانـــدې روان شـــو

يــوه ورځ وه ، مـــا ژړلـــې ســـر مـــې ســـتا پـــر ولـــي کېښـــود
ستا په سترګو کې چې ورک شوم داجهـان مې واړه پرېښـود

يـــوه ورځ تـــه شـــاه ميـــرمن وې ، زه يـــوازې ســـتا پاچـــا وم
پاچانـــه وم ســـتا بنـــدي وم، بـــدو ســـترګو نـــه پنـــاه وم

يـــوه ورځ وه، مـــوږه ســـتړي لـــه دې دومـــره ډيـــرو خلکـــو
لاس پـــه لاس دوه اوبـــو وړي لـــه دې دومـــره ډيـــرو خلکـــو

يـــــوه ورځ وه ، عاشـــــقان ووعارفـــــان وو، زه او تـــــه وو
دزاړه ښـــار پـــه کوځـــو کـــې ســـرګردان وو، زه اوتـــه وو

(c) ketabton.com: The Digital Library



يــوه ورځ وه ، پــه زيــارت کــې تــر رنګينــو جنډولانــدې
تــا ســتومانه نظــر کېښــود زمــا پرســتړي ګوګــل بانــدې

يــوه ورځ وه ، ســتا لــه ستړګو څخــه اوښــکې راروانــې
زه حيـــران درتـــه ولاړ وم، ســـتا وې زلفـــې پريشـــانې

يــوه ورځ وه مــادې سترګې پــه خپــل رغــوي کړلــې وچــې
تبــرک و ســـتادعطرو ، مـــادې اوښـــکې کړلـــې پټـــې

يــوه ورځ وه، ستا داوښکو دوې سکې وې زما پــه جېب کــې
زنګيــدم ســتاپر پــاوليو ، شــرنګيدمه ســتا پايزيــب کــې

يــوه ورځ وه ، ســـتا پـــر ژبــه دغوســې سـندرې شــنې وې
زه دې اور تــه وم نيــولى، ســـتا پــه سترګوکې لمبــې وې

يــوه ورځ وه ، تــا نيــولى وم پــه غــلا دخپلــو اوښــکو
پــه تــاوان کــې وم درپــاتې دڅــو سپينو تللــو اوښــکو

(c) ketabton.com: The Digital Library



يـــوه ورځ وه ، راسـره وې ســتا داونبــکو وږمـې ډيـرې
مـا انکـار کـولی نـه شـو ، چـې کـړم سـپينې سـکې هېـرې

يــوه ورځ وه ، مــا راتــول کـړل خپـل خيالونــه اوفکرونــه
دښـــکلا پـــه چينـــه وللـــي زمـــا راتـــه غمـــي شـــعرونه

يـــــوه ورځ وه، مـــــا راوړې ترانـــــې وې او ســـــندرې
دعشـــق رونې دريـــاب نـــه وتـــې مرغلـــرې مرغلـــرې

يـــوه ورځ وه ، مـــا راوړي دزړه غـــــږ نـــــه مرجانونـــــه
تصـــــويرونه پـــــه لفظـــــو کـــــې ګلابونـــــه ګلابونـــــه

يــوه ورځ وه، ستاپښــو تــه مــې دا هرڅــه نذرانــه کـړل
ســتا داونبــکو پــه تــاوان کـې مـې داتـول دانـه دانـه کـړل

يـــوه ورځ وه ، تـــاويلي زمـــا خيالونـــه پکارنـــه دي
زه دژونـد شـين غمـی غـوارم زمـا لفظونـه پکـار نـه دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه ورځ وه ،چې داوښکو په تاوان کې دې غوښتلم
بندیوان دخپلو زلفو په زندان کې دې غوښتلم

یوه ورځ وه، زما په لاس کې غزلونه مړاوې شوي
د سندرو نغمې مړې وې ، سرودونه رژیدلي

یوه ورځ وه ، زه نورهیځ وم بې سروده بې سندرې
ستا پرحسن غبار ناست و دبېلتون دې کړې خبرې

یوه ورځ وه، قیامت نه و ،لمرختلی و اسمان کې
زه لا مړ نه وم ، ژوندی وم لاهم ورک وم پخپل ځان کې

یوه ورځ وه، چې ته نه وې ستا په عطرو پسې مړ وم
شرمیدم له خپله ځانه ، ستا داوښکو په غلا پړ وم

یوه ورځ وه، ستا غږ نه وو دزاړه ښار په فضا کې
زه یوازې وم بې سیورې څه و مات زما په ارواکې

(c) ketabton.com: The Digital Library



یــــوه ورځ وه ، عاشــــقان وو عارفــــان وو خــــو تــــه نــــه وې
زه او روح مــې پــه کوڅــو کــې ســرګردان وو ، خــو تــه نــه وې

یــوه ورځ وه ، زمــوږ مینــه بــس یــو خــوب غونــدې پــه یــادوه
زمــــا او ســــتا کیســــه چــــې ورېږي دبیلتــــون دژمــــي بــــادوه

یــوه ورځ وه ، تــا پــه خــوب کــې راتــه وېــل چــې ژوندون څه دی
مــا ویــل دومــره اوس پــوهیږم ، چــې مرګــی تــر بېلتــون ښــه دی

۲۴ اکتوبر ۲۰۱۱

وارسا ،پولند

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ( هېڅ) نه شته!

یو ه مو ده مې ستا له سترګو څخه لرې ژوندون وازمویه
او ایله پوه شو مه چې ( هېڅ ) څه مانا ؟

هره شپه ستا د سترګو ښکلې اللو ژاړم
هرسهار مرګ ازمویم ، ستا له ترخې نشتې سره
ته دې په خپلې ها یو ازې، ها تیاره خونه کې
همدا سې غلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلمانځه په ځای کې خوب وړې يې

او زه پوهیږم چې تراوسه مې په خوب کې وینې

تر هغو ( هېڅ ) نشته ، مانا يې نه شته

تر هغه پورې چې ما خوب کې وینې

او تر هغو چې

زما هر شعر

ستا په نوم پیلیږي.

۱۳۸۹ دوبی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# هیریادونه

داسې یې چې مروړي ښکلا څه غواړي
زړونو نه دا روې بلا څه غواړي
راشه چې دې سترګو څخه وپوښتم
دومره ډیر غمونه له ما څه غواړي
هره ورځ سرونه د ښامار خوله کې
خلک خبر نه دي پاچا څه غواړي
مه پوښته دا توندې توپاني څپې
شګو نه ، له جوړې دنیا څه غواړي
ما دې هیرې کړي دي خوږې سترګې
رامې شي خوبونو ته بیا څه غواړي
ولاړه شه یادونو ته او وپوښته
تیره ، هیره مینه له تا څه غواړي
کله چې لېوال په زړه د روګرځي
دومره یې درواخله چې دا څه غواړي

۱۳۸۹ ، لیندۍ، ۲۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



# واټ

پر سپین ګردي ډبرین مېز باندې قهوه او خواږه
څپې څپې د یو آرام ترنم
او تر هنداري بهر
د یوه لوی ښار ، یوه خوځنده زوربمنه کوڅه
دواټ پرڅنډه یو بوډا د ساړه باد څنو ته ګوري او ګیتار غږوي
منی راګډ دی سرې او ژېړې پاڼې اوري پرواټ
یوه جوړه تر ونې لاندې یو د بل سترګو کې ډوب دي
کله کله یو له بل څخه مچکې اخلي
یو سړی خپل ساعت ته وګوري ، ګامونه پسې لاچټک کړي
او یو ماشوم له خپلې مور سره لګیا دی په خوږه مرکه
یو څراغ سور شي او بل شین شي ، ډله خلک له سړکه تېر شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه او قهوه

څټک سرې او ساعت

هاخوا بوډا او ګیتار

هلته زلمی او نجل یې

بل خوا ماشوم او مور کې

هر یو له ( بل ) سره بوخت

ځینې پر ژوند تیریږي

پر ځینو ژوند تیریږي

یو څراغ سور شي او بل شین شي ، ډله خلک له سړکه تېر شي .

مسکو

۲۰۱۲ داکتوبر اوومه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دا مې غر دا مې شودياره

دکېږدۍ په پېڅول غوټه
ګلابي څادر رپيږي
ناوې لرې لارې څاري
په کنډو دوړې ښکاريږي
زرکه کټ کټ په خندا شوه
سلا يې يې کړه لمده په نرۍ ژبه
ګل غوټۍ ته يې دسترګو لکۍ وکړې
غوړګې بيا ورته نرۍ کوڅۍ کړې سمې
لږ په تريو تندي يې وويل:
شال يې ښه نه دی راوړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورانوي د کمځو ولونه.

د ماښوم څونډي څپ څپ شو

غلی ناوې ته ورکوږ شو

بوډۍ نیا ورته غوسه شوه

لرې ورک شه ! څونډه کیه

څه پسیږې لکه ښځه

ځه دادا ته دې ناري کړه

اوس به راشي ورا له کوزه

کورت لا نه دي سرو ویل شوي.

ګل غوټۍ شوه غلې موسکه

وور زړګی یې په درزا شو

تر دړۍ لاندې نرۍ خوله شوه ماته

خدایه پزل ! خدایه رحم !

چې دادا راخبر نه شي

چې لالا په لار کې نه وي !

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړکې سترګه ووهله
له کیږدۍ نه ووتله
ګل غوټۍ دناوې دود کميس اغوندي

***

د کېږدۍ په پېښول غوټه
ګلابي څادر رپيږي
دبوډۍ نارې سورې شوې:
هلۍ ! خاورې مې په سر شوې
ناوې نښته په کېږدۍ کې
ګل غوټۍ وړه مرغۍ شوه
په اسمان کې یې درګورئ
يا اوبو کې ښاپيرۍ شوه
له خپو سره پناه شوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



هلته بر د کنډو شا ته

باتور بریت په ګوتو تاو کړل

ښکلې ناوې نه یې خوله په مینه غلا کړه

ګل غوټۍ لا رپېدله

له جانانه یې غیږ تاو کړه

آس په پونده دوړې باد کړې

د سیند غاړې ته ورکوز شو

د خم ونو کې پناه شو

باتور غلي غلي وویل

شپه به تیره کړو ځنګله کې

سبا اوړو له تور غره نه.

***

ورا روانه ده په لاره

زوم په آس باندې خوب وړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



په نکريزو يې سره رېږه
باد ته اوړي لکه سپانده
دآس زين لاندې يې پټه
صدفي ښايسته لکره

دکبرډۍ په پېښخول غوټه
ګلابي څادر رپيږي
په دادا زلزله ګډه
دولور ميږې ميراتي
اوښې اينده پروت په يو اړخ دی
تغاره دکوروتو سپينه
د تودو جواريو شکور ته
کاکلۍ چرګه ننښتي
خړه خره ورته ولاړه

***

(c) ketabton.com: The Digital Library



تورو غروکې نرۍ لاره
دآس پوندې پولادي دي
ناوې سره لاسونه ایښي
د زلمي مین په غاړه
ګلسرک په کمره ناسته
د سونګوري په بوی مسته
چغ چغاکې داسې وايي:
په للمیو باران اوري
دامې غر دامې شودیاره
دکوچانو ناوې ولاړه.

۱۲وری ۱۳۸۹

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ورک غمی

دشپېتو برېښو ورځ په ورځ کمی دی
تور دی ،
سور دی
یاشنیلی دی
دې وطن کې کوم غمی دی
دکافرو مسلمانو پرې دربی دی
په تخت ناست دی ، یو سړی دی
هره ورځ ورته راځي سل ـ سل سرونه
څه يې ښځې ، څه سپين ږیري
څه يې ځوان څه ماشومان دي
ورته ژاړي ورته خاندي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شل ښاماره پرې راتاو دي
پاچا ژاړي وایي اوردی
دکوم غټې کافر له کوره
راالوتی کوم توپان دی
پر سرونو دښامارو اررېمی دی
دشپېتو برېښو ورځ په ورځ کمی دی.

دوطن خلک چیچلي ، لیونۍ توري بګوې
نیم یوه ښامار ته تللي
نیم دبل پر ملا سپاره دي
دملتان دیو وربللي
اصفهان ته تښتېدلي
دعربو کوډګر راغلل
تور جوګیان له هندوستانه
تاویزونه ، طلسمونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوطن خلک بنګساره

خپل بچي په تورو وژني

خپلې ښځې او سپين ږيري

خپل زلمي داړي په داړو ،

پټې خان زخمي په تورو

هر يو يار يې اکرمی دی

د شپېتو بړېخو ورځ په ورځ کمی دی.

رابيا هم ليونۍ شوې

د پټې بچی يې وويسته له ګيډې

هلۍ ګورئ ! ليونۍ ته

خپل ماشوم داړي په غاښو

د ديوبند پېريان پرې ناست دي.

(راجا ) سپور په دنګ بيهاڼ دی

د سره اور ګورز يې په لاس کې

د(پنجاب )په ننګ راغلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



(کوه نور ) کابل نه غواړي

پاچا ريږدي ، پاچا ژاړي

لوی ښامار نه د سرونو امان غواړي

لوی ښامار يو لوی کوډګر دی

له پاچا نه غمی غواړي

پاچا خپله برخه غواړي

وزير خپله برخه ژاړي

(کوروش ) بيا توره ايستلې

له (ساکانو ) کسات اخلي

سر يې ډنډ وينو کې خاندي

کندهار پاچا نه غواړي

پاچا ژاړي - پاچا ريږدي

دوطن دخلکو لاس کې

راشنې شوې لس چړې دي

ماشومان حلالوي چې داکافر دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښاماران له خوشالۍ نه ورته ناڅي
د شیشکواتنونه ، د دیوانو د ډولونو څه غربي دی
د شپېتو بړېڅو ورځ په ورځ کمې دی.

دیوه کاله زلمي دي
سره ورونه یا تربرونه
د ښامار د کوډو زور دی
یو له بل ربیبي سرونه
وایي دا وژنم کافر دی
بل وای: دا هم لوی جاهل دی
ورک غمې چیرته پټ شوی ؟
د ښامار هغه په کار دی
چا ویل د شالیلا غاړه کې پروت دی
شالیلا د پاچا لورده ،
نه ! د ټولو زلمو خور ده ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



چیرته لرې بندیوانه ،

دښامار داړې ترې تاوې

شالیلا غاړه ایستلی:

که دوې دې دوې دي ،

کلای بست دروازې دوې دي

په یوه پټې خان وځي

په دابله یې دمور سوې نارې دي

دوطن خلک بنگساره

یوله بل پرې کوي غاړه

تور دی ، سور دی که شنیلی دی

زما په غاړه پروت دغم داور غمی دی

دشپېتو برېخو ورځ په ورځ کمی دی.

۲۱ سرطان ۱۳۹۲

یادونه: پرهمدې زمکه دګران نذیر احمد نذیر شعر تردې پخوا لیکل شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# افغانستان

غنم لوغوندي ښايسته يې دهيرمند رڼه څپه يې
اې زموږ افغانستانه !د مورکۍ دخولې کيسه يې

داوزبيک ماشوم موسکايې، دتورکمن قُرصه رخچينه
دپامير زيږه هوا يې ، دآمو خوږه نغمه يې
له پارون نه را الوتى دناټونو مست شرنګى يې
دمڼې دګل پرپاڼه ليکل شوې زمزمه يې
دبابا له هسکې څوکې درته ګورم راته ښکارې
غُلغله يې، هسک صلصال يې يا خودنګه شمامه يې
له قومونو او بدل شوى دبابا رنګين ګيليم يې
دابۍ تږي منګي ته دغره غېږه کې چينه يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دنیلاب په شور دې مینځم، بلوڅي مول کې دې نغارم
ته د دې ملت د عزم یو لوی کتیبه یې
ته اتڼ یې ته قرصک یې، یکه زار د شپون ناره یې
د ملت د عشق یادګاره ! په سندرو کې تپه یې

ته ودان یې، ته ازاد یې ،ته پرون یې ته سبا یې
اې زمونږ افغانستانه ! ته ویاړلې زمانه یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# يوه مړاوې ژمنه

منم چې مرم درپسې
خو
بیا دې نه شم لیدای
بیا دې له تورو سترګو سپینې اوښکې نه پاکوم
بیا په بند ستونې
په نښتې ژبه
ستا دکتو په وړاندې نوم د مینې نه اخلمه
منم چې مرم درپسې
خو ما له خپل ژونده د تېښتې په لار

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا د ژغورنې په نوم

دغه یرو خولو د بندولو په پار

ځان سره دا منلې

چې په لیدو پسې دې و مرم

خو لیدا ی دې نه شم.

۱۳۸۸ د خیلې ۱۵مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړلیک

سرلیک | مخ

ژوند ښکلی دی! ........................................ ۱
استازی ........................................ ٦
پایزېب ........................................ ۹
څرېکه ........................................ ۱۴
د تیارې او نور ګرداو ........................................ ۱۵
اور، شپه او مساپر ........................................ ۱۸
باد ........................................ ۲۰
بد ........................................ ۲۳
برزخ ........................................ ۲۵
رنګ ........................................ ۲٦
برزخ ........................................ ۲۷
بېټنیکه ........................................ ۲۸
ورکې سترګې ........................................ ۳۸
او له سترګو ورک سړی ........................................ ۳۸
تاریخ ملنډې وهي ........................................ ۴۳
تشه ........................................ ۴۵
ته او هره شپه ........................................ ۴٦
ګناه او ویاړ ........................................ ۴۷
هغه ښکلې تللې ورځې ........................................ ۴۸
خندا ........................................ ۵۲
زه خوشال... ........................................ ۵۳

(c) ketabton.com: The Digital Library


دا به څه وي؟ ........................................ ۵۸
د خپلې کليزې له ويرې ........................................ ٦١
تا ته! ........................................ ٦٣
يوه بله عاشقانه ........................................ ٦٣
بيرغ او ډيوه ........................................ ٦٦
د شاعر آزار وهلې ته! ........................................ ۷۰
دغه بې غمه خلک... ........................................ ۷۲
املا ........................................ ۷۵
د ولسمشر لومړى فرمان ........................................ ۷۷
ګوتمى ........................................ ۷۸
ډايناسوران څه شول؟ ........................................ ۸۰
ډبرې ........................................ ۸۳
زما جېلوانې! ........................................ ۸۷
زمزمه ........................................ ۸۹
ژوند ........................................ ۹۱
ساړه ........................................ ۹٦
ستا د کرکې په شپېلوکې ........................................ ۹۷
ستا له يادونو سره ........................................ ۱۰۲
باران باران غزل ........................................ ۱۰٦
سرچپه ........................................ ۱۰۷
سنګسار ........................................ ۱۱۱
د پېړۍ شرم! ........................................ ۱۱۲
سيګار ........................................ ۱۱۵

(c) ketabton.com: The Digital Library


هره شپه ........................................ ۱۱۸
لمبه ، لمبه نځا ........................................ ۱۱۹
شمعه او شیشه ........................................ ۱۲۱
شپبه ........................................ ۱۲۳
شینشوبی ........................................ ۱۲۴
غږدي ........................................ ۱۲۵
د باران په تمه ........................................ ۱۲۸
غزلګی ........................................ ۱۲۹
تودوخه ........................................ ۱۳۰
فلسفه ........................................ ۱۳۳
قیامت ........................................ ۱۳۴
شپه او ګلغوټۍ ........................................ ۱۳۷
ګلغوټۍ ته اووم سرود ........................................ ۱۴۱
ګلغوټۍ ........................................ ۱۴۹
ګُلبیتونه ........................................ ۱۵۲
پوهه لانېمګړې ده ! ........................................ ۱۵۳
کمپاین ........................................ ۱۵۵
باران ، کورمه ، کوچی ........................................ ۱۵۶
هېواد مې ........................................ ۱۶۲
له تانه بېرته تاته ! ........................................ ۱۶۳
مرکه ........................................ ۱۶۷
مزل ........................................ ۱۷۰
د اوبو ژرنده ........................................ ۱۷۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

سیاست ........................................ ۱۷۳
بهانه ........................................ ۱۷۴
یوازېتوب ........................................ ۱۷۶
مور ته سرود ........................................ ۱۷۷
ستا تر کلیزې یوه اونۍ وروسته ........................................ ۱۷۹
هر څه دواک لپاره ! ........................................ ۱۸۱
یاد ........................................ ۱۸۳
نوروز ته سرود ........................................ ۱۸۴
زما د خوبونو غلې ته! ........................................ ۱۸۶
مننه! ........................................ ۱۸۸
خبرونه ........................................ ۱۸۹
هاغې تللې ته سرود ........................................ ۱۹۱
(هېڅ) نه شته! ........................................ ۱۹۶
هېریادونه ........................................ ۱۹۸
واټ ........................................ ۱۹۹
دا مې غر دا مې شودیاره ........................................ ۲۰۱
ورک غمی ........................................ ۲۰۷
افغانستان ........................................ ۲۱۳
یوه مړاوې ژمنه ........................................ ۲۱۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مننه او کور ودانی

د افغانستان ملي تحریک له هېواد پال او فرهنګپال شخصیت ښاغلي (ډاکتر محمد یعقوب پتیالي ) څخه د زړه له تله مننه کوي چې د دې اثر چاپ ته یې اوږه ورکړه. ملي تحریک ویاړي چې د علمي اثارو د چاپ لړۍ یې پیل کړې ده. دا لړۍ به دوام لري. موږ له ټولو درنو هېوادوالو څخه په خورا درنښت هیله کوو چې په خپل معنوي او مادي وس د کتابونو د چاپ دا لړۍ لا پسې وغځوي.

یو ځل بیا د دې اثر له شاعر او چاپوونکي څخه د زړه له تله مننه کوو چې د دې اثر د پنځولو او چاپولو جوګه شول.

په فرهنګي مینه

د افغانستان ملي تحریک

(c) ketabton.com: The Digital Library

■ ■ ■

دسرو گلو نخا وه په خپو کې گلغوټۍ
غوټۍ غوټۍ غوټۍ وه په اوبو کې گلغوټۍ

سهار یې پرانیستله چې تنهې دګریوانه
همداسې غځېدله موسېدو کې گلغوټۍ
په سره کمیس کې سپینه تاویده راتاویده
لانه وه غوړیدلې په لمبو کې گلغوټۍ
جلوه وه دجنت زمور پر زمکه گرځېدله
سرکشه ، هسکه غاړه پرېښتو کې گلغوټۍ
اخیسته زړه او ذهن ورنه ډېره خوشبویي
نغاړلې دخدای لاس وه په ورمو کې گلغوټۍ

هغه دې په یادیږي؟ چې خپل پټ نوم دې راوښود
دعطرو، درنگونو په پردو کې گلغوټۍ

د افغانستان ملي تحریک
www.melitahrik.com

د خپرونو لړ: ۸۹

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**